
# الرساله

Al-Risala

اګست، ۲۰۲۶ز



د نـورو لـه شره د ځـان خونـديتوب تـر ټولـو اسانه طريقـه دا ده چې ـــــــ بنـده لـه خپلـه شره نور خوندي وساتي.

# الرساله
Al-Risala

**اګست، ۲۰۲۶ز**

**مولانا وحیدالدین خان**

(د الرساله په ټولو ګڼو کې د قرآن کریم پښتو ژباړه د مولانا فاروق غلجي صاحب له ترجمې رااخیستل شوې ده.)

بسم الله

الرحمن الرحيم

اسـلام دا دی چـې ـــــــــــ بنـده لـه خدایـه ووپرېږي، او د نورو لپاره هغه څـه خوښ کـړي چـې د ځان لپاره یې خوښوي.

★

د یـوه مشـهور لیکـوال پېښـه ده. ده نـاول لیکلـی و. ناول خورا ډېر پنډ و. ملګـري یـې نـاول تـه پـه اشـاره ووېل: «اف، دومره لوی ناول، په لیکلـو یـې سـتړی نـه شوې؟» ناول لیکونکي بې واره ځواب ورکړ: «هېڅ کله نه، زما توجه به همېشه په راتلونکي پراګراف وه.»

ژوند هم همداسـې سـتومانوونکی داسـتان دی چـې زموږ د برياوو او ماتو له پېښو سره هره شـېبه د لیـک پـه حـال کـې دی. لـه دې اوږد او وچ داسـتان سـره د پرلپسې لېوالتیا یوازنۍ لاره دا ده چې بنده خپله توجه همېشه د داستان په راروان پراګراف راټوله کړي.

★

یـوه خـان پـه خـوب کـې ولیـدل چـې لکشـمي جـي (د شتمنۍ بګوانه) ورتـه وایي: صاحب! نور پـه تا کـې هـېڅ نېک کار پاتې نه دی. بس په یـو څـو ورځـو کـې دې لـه

کور سره مخه ښه کوم. ته چې هر څه غواړې، ویې غواړه. خان ورته وویل: سمه ده، زه به سبا له خپلو بچو سره سلا او مشوره وکړم، بیا مې چې څه غوښتل، هغه به وغواړم.

سهار شو. خان د خپل خوب کیسه ټولو ته تېره کړه. د کورنۍ له غړو ځینو د مرغلرو او الماسو وویل، ځینو د سرو زرو انبارونه غوښتل. چا د غلې او چا د موټر او بنګلې سلا ورکړه. په پای کې یې کشرې نږور وویل: «پلار جانه! نو لکشمي چې روانه ده، نو دا شیان که راهم کړې، نو څنګه به پاتې شي؟ تاسې خو یوازې دا ورنه وغواړئ چې په کور کې دې مینه او محبت پاتې وي. د کورنۍ په ټولو غړو کې چې مینه وي، نو د مصیبت ورځې به هم په ارامه تېرې شي.»

د خان دا وړاندیز ډېر خوښ شو او چې کله د شپې بیا لکشمي په خوب کې ورته راغله، ویې ویل: «وغواړه، څه غواړې؟» خان ورته وویل «دېوي! که تا د تګ اراده کړې وي، نو په خوشالۍ لاړه شه، خو دا

احسان راباندې وکړه چې زموږ د کورنۍ په غړو کې دې همېشه مینه او محبت پاتې وي.»

لکشمي وویل: خان خو داسې خبره وکړه، چې پښتو ته یې زنځیرونه راواچول. ښه له داسې کورنۍ نه چې په غړو کې یې مینه او محبت وي، زه څنګه تللی شم؟»

★

## له ولسمشرۍ نه انکار

البرټ اینسټاین یهودي ساینس پوه و. د اسرائیلو د لومړي ولسمشر ویزمین له مړینې وروسته اینسټاین ته د اسرائیلو د ولسمشرۍ وړاندیز وشو. خو هغه د دې عهدې له منلو انکار وکړ. ده سفیر ابا ایبان ته وویل: زه د طبیعت په باره کې ډېر کم معلومات لرم او د انسان په باره کې خو ډېر په مشکل په څه پوهېږم. زه د اسرائیلو له لوري له دې وړاندیز نه ډېر متاثر یم خوا په کې یې متاسف او شرمنده هم یم چې منلی یې نه شم. ما خپل ټول ژوند په عینې پدیدو کار کړی دی. نو ځکه له ولس سره په سمه توګه د چلېدو او د سرکاري چارو د مخته وړلو لپاره له فطري استعداد او

تجربې دواړو نـه محـروم یـم. کـه زمـا ډېـر عمـر زمـا ځواکونه نه وای اغېزمن کړي، بیا هم یوازې د همـدې دلایلو له مخـې هـم زه د دې مقـام د مسـؤلیتونو لپـاره مناسب نه وم.

★

ماتـې که هر څومره لویه وي، همېشه لنډمهالـه وي او بېرته د بهتر پلان په مټ په بریا بدلېدی شي.

★

د دوو کسانو په منځ کې چې شخړه او لانجه وي، نـو د هغوی تـرمنځ د انصـاف د ټینګولـو یـوازې یـوه لاره ده ـــــــ دواړه دې په دې پوه شي چې د دوی تـرمنځ یـو دریم هم دی او هغه اللّه دی.

★

**بسم الله الرحمن الرحيم**

يوه ښاغلي وويل «موږ به د خپل زور په کارولو خپل مسايل حل کوو.» ما ورته وويل، دا ډول الفاظ مازې الفاظ دي، چې هېڅ معنا هم نه لري. ځکه له کارولو نه مخکې د کارولو استعداد پکار وي او په موږ کې هغه استعداد نشته. عملي طرحې د ځان لپاره موافقه مځکه غواړي. اوسنيو حالاتو کې لومړنی کار دا دی چې د مسلمانانو خپلمنځي جګړې ختمې شي او يووالی په کې پيدا شي. د جهالت په ځای تعليم وده وکړي. د احساساتو په ځای حقيقت‌پلوي راشي. د انتشار په ځای د اطاعت جذبه پيدا شي. د بې صبري په ځای خلک زغم ولري. دا شيان چې په قوم کې تر يوه حده پيدا شي، له هغه وروسته بيا عملي طرحه کاميابېدلی شي. د اړينو اوصافو له روزلو پرته د اقدام طرحه جوړول همداسې ده لکه له پل جوړولو نه مخکې چې موټر وربانده وځغلول شي.

هغه وويل، دغه فکرطرز به نور څومره خلک لري؟ ما وويل، همدا خو ستونزه ده. في الحال داسې خلک له اړين شمېر نه ډېر کم دي، نو اول به موږ د همدې هڅه کوو. بيا مې بې تکلفه وويل، «په الرساله کې د همدغه مزاج د روزلو هڅه روانه ده. خو تاسې يې په خپرولو کې مرسته نه کوئ.»

ويې ويل، «تاسې هم کومه خبره، له کوم ځای سره وګنډله؟» مطلب دا چې چېرته دومره لويه نړيواله مسئله او چېرته الرساله. حقيقت دا دی

چې زموږ د ناکامي تر ټولو لویه وجه زموږ همدغه مزاج دی. پیل چې هرکله وي، وړوکی به وي. خو موږ له «کوچني پیل» نه شروع کول نه غواړو، همدا ده چې پیلولی یې هم نه شو.

★

د حضرت یحیی علیه السلام خوراك ځنګلي شات او ملخان وو. ده به د اوښانو د وېښتو ټوکر اغوسته، او په لاره کې به یې په لوړ اواز تبلیغ کاوه. حضرت مسیح علیه السلام خپل کور نه درلود. دی به د ورځې د خلکو په منځ کې ګرځېده او د خدای پیغام به یې ورته رساوه او د شپې به په غرونو کې ویده شو.

★

**عن بقية قال سمعت الاوزاعی يقول: العلم ما جاء عن اصحاب محمد و مالم يحبی عن واحد منهم فليس بعلم.**

بقیه وایي، ما له اوزاعي نه واورېدل چې «علم هماغه دی چې د محمد ص له صحابوو رسېدلی وي. چې په هغوی کې له چا څخه نه وي ترلاسه شوی، هغه علم نه دی.»

★

## بې له ابتدايي تياري

جارج برنارډ شا د انګرېزي ژبې مشهور اديب او مفکر دی. ده له شکسپير سره د خپلې پرتلنې په هکله ويلي دي:

«د شکسپير قد له ما نه ډېر لوړ دی، خو زه د هغه په اوږو ولاړ يم.»

برنارډ شاه د شکسپير له مړينې شاوخوا دوه نيم سوه کاله وروسته په ۱۸۵٦ کې نړۍ ته راغی. شکسپير (۱٦۱٦- ۱۵٦۴) چې په خپله زمانه کې انګرېزي ژبه په کوم مقام کې موندلې وه، په هغې کې يې په خپلو هڅو لا ډېرې زياتونې وکړې. تر دې چې د پرمختګ يوه نوې پړاو ته يې ورسوله. له شکسپير نه وروسته سلګونه د قلم خاوندان پيدا شوو چې انګرېزي ژبې ته يې وده پسې ورکوله. تر دې چې ژبه هغې پرمختللې مرحلې ته ورسېده چې برنارډ شاه ته يې دا فرصت ورکړ چې خپلې قلمي هلې ځلې پيل کړي. که له برنارډ شاه نه مخکې خلکو ده ته «اوږې» نه وای ورکړې، نو د ده لپاره به ناشونې وه چې د ادبي پرمختګ هغه هسک مقام ته دې ورسېږي چېرته چې دی په خپلو هڅو ورسېد.

همدا اصول د ژوند په ټولو چارو کې پلي دی. تېرو خلکو چې ابتدايي پړاوونه وهلي وي، نو هماغه وخت دا ممکنه ده چې وروستني خلک دې راتلونکو منزلونو ته سفر لنډ کړي. که تېرو خلکو د خپلې حصې کار ونه کړ، نو د مخې خلک به د مخکې په ځای له شاته نه خپل سفر پيلوي. ځکه سفر همېشه له هغه ځايه پيلېږي چېرته چې ولاړ ياستئ، نه له هغه ځايه چېرته چې رسېدل غواړئ. د يوه کور دېوالونه چې نه وي جوړ شوي، د هغه کور پاسني منزلونه به په څه شي ودرېږي؟

یو قوم چې د داسې ماضي وارث وي چې په وراثت کې یې خپلو راتلونکو نسلونو ته یوازې رومانوي شاعري او جذباتي ویناوې ورکړې وي، چې د خامو اقداماتو په پایله کې یې د بربادیو څپېړې خوړلې وي، چې د احساساتي خوشباوریو د غذا په ډېر خوړلو یې د حقیقت‌لیدنې مزاج له لاسه ورکړی وي، چې له ابتدایي استحکام نه مخکې یې په سیاست‌بازي کې لاسونه ښکېل کړي او خپل فرصتونه ضایع کړي وي، چې د خپلو هنگامو له لاسه په تعلیم، صنعت، تجارت او زماني شعور کې له ټولو ملتونو نه شاته پاتې وي، د دغسې ځپل شوي قوم راتلونکي نسلونه د مخکې له منزل نه خپل سفر نه شي شروع کولی. دوی مجبور دي چې له هغه ځایه قدم واخلي چېرته چې د دوی پلرونو او نیکونو خپله لاره پرې ایښې وه. که دا ډول خلک یو ځل بیا د لفظونو په هماغه اتلولي کې بوخت شي چې له دوی نه مخکې خلک په کې بوخت وو، نو دا به یوازې د هغه وخت د لا بربادولو په معنا وي چې د دوی پلرونو او نیکونو په ډېره لویه کچه برباد کړی دی. عملي پایله، یوازې په عملي کارونو ترلاسه کېږي. د الفاظو له کر نه د عمل فصل نه شي رېبل کېدی. طبیعت چې یوه ونه زرغونوي، نو له تخم نه خپل عمل پیلوي. دا د طبیعت له لوري د انسان لپاره یو خاموش درس دی ـــــــ له «تخم» نه هر انسان «ونې» ته رسېدی شي. خو که له ونې نه ونې ته رسېدل غواړو، نو دا ډول پېښنه به په دې مځکه هېڅ کله ونه لیدل شي.

## د خپل ځان په خلاف په تنقيد وپارېده

ازرا پاؤنډ (۱۹۷۲- ۱۸۸۵) مشهور امريکايي شاعر او کره کتونکی دی. رابندرانات ټاګور سره د ده لومړۍ ليدنه په ۳۰ جون ۱۹۱۲ کې په لندن کې وشوه. دی د ټاګور له استعداد نه ډېر زيات اغېزمن شو. د ټاګور د نظم ګيتانجلي چې انګرېزي ترجمه خپره شوه، نو ازرا پاؤنډ ( Ezra Pound) وليکل چې د ټاګور په کلام کې هغه عظمت ليدل کېږي چې د دانتې خاصه ده. ده ان دا هم وويل چې دی له موږ هر يوه نه ډېر عظيم ليکوال دی.

... greater than any one of us

ازرا پاؤنډ د ټاګور په باره کې دا خبرې په مارچ ۱۹۱۳ کې په يوه امريکايي مجله (Fortnightly Review) کې ليکلې وې، يوازې يوه مياشت وروسته په ۲۲ اپرېل ۱۹۱۳ کې ده د Poetry مجلې د ايډيټر په نوم يو خط واستوه چې په هغه کې يې ټاګور پالتو (Superflous) ګڼلی و او ويلي يې و چې د ده په کلام کې فقط د بعضي پخوانيو خبرو تکرار دی او په اصل بنګالي ژبه کې چې يې کومه ذايقه او چاشني لرله، هغه هم په انګرېزي ژباړه کې له منځه تللې ده.

د ټاګور په باره کې د ازرا پاؤنډ په نظر کې دا تبديلي څنګه راغله. د دې وجه دا وه چې ازرا پاؤنډ د کالي موهن ګوش په همکاري د کبير د نظمونو انګرېزي ژباړه پيل کړه. دا ترجمه له کتابي شکل نه مخکې په مجله کې برخه، برخه خپره شوه. ټاګور چې دا ترجمه وليده، نو ډېره ناقصه ورته ښکاره شوه. ټاګور د ژباړې په غيرادبي معيار ډېر سخت تنقيد وکړ. د دې تنقيد په ليدو د ازرا پاؤنډ طبيعت ګډوډ شو او هماغه ټاګور چې

ده يې په هکله مخکې د ستاینې غیرمعمولي الفاظ کارولي وو، اوس يې د هغه په هجو لاس پورې کړ. (ټائمز اف انډیا ۱۸ مارچ ۱۹۷۹)

د زیاترو انسانو لپاره تر ټولو کرکجن شی په خپل ځان باندې تنقید دی. د دې وجه دا ده چې د زیاترو انسانانو لپاره د پرستش مرکز خپل ځان وي او د انسان فطرت دی چې د خپل پرستش په مرکز هېڅ کله تنقید نه شي منلی.

انسان چې کله د چا ستاینه کوي، نو په زیاترو حالاتو کې دی د خپل ځان ستاینه کوي. یو رهبر چې کله دریځ ته راځي او د ډک تالار په وړاندې د الفاظو سیندونه بهوي، نو دی په اصل کې د ولس د هغې ډالۍ بدل ورکوي چې هغوی د ده د وینا تیاتر ته راټول شوي او د ده شان او دبدبه يې ورزیاته کړې ده. یو شخص چې کله د داسې شخص په اعتراف کې قصیده غږوي، چې د ده حریف نه دی، نو دا په اصل کې د خپل ظرف د لویوالي او د خپل شرافت د ښکاره کولو یوه بې ضرره بڼه وي. یو صاحبِ قلم چې کله د بل صاحبِ قلم په باره کې د الفاظو ګلونه وروي، نو دی په غیر مستقیم ډول د هغه د پخوانی قصیدې مننه کوي یا دا وایي چې ته هم په همدې ډول زما قصیده خپره کړه. کله ناکله یوه ستاینه د دې لپاره خپرېږي چې د کوم پخواني تنقید له امله خپل وران شوی تصویر بېرته متوازن کړای شي. د ستاینې حقیقي الفاظ هغه دي چې د خپل ورور لپاره د خیرخواهي په جذبه کې ویل شوي وي. خو همدا شی په دنیا کې تر ټولو ډېر کمیابه دی. یو چاته د حقیقي خیرخواهي یوه کلمه ورکول دومره لویه فیاضي ده چې شاذ او نادر به د کوم خوشبخته په برخه کېږي.

## يوازې «کول» کافي نه دي

که د سطل په بېخ کې سورى وي او تاسې له پاسه اوبه ورباندې راخوشې کړئ، نو ټولې اوبه به سوري نه دباندې بهېږي او د بالټې په برخه به هېڅ هم ونه رسېږي. همدا معامله د انسان هم ده. د انسان هماغه کار په حقيقت کې کار دى چې پخپله ده ته يو څه ورکوي. که انسان په ظاهر کې ډېر فعاليتونه ترسره کوي او خپل وجود يې د يو څه له ترلاسي نه محروم وي، نو د ده فعاليتونو هېڅ حقيقت نه لري. کار هماغه کار دى چې د بنده په ذهن کې د شعور بخرکي بل شي. په زړه کې يې د سوز او درد لاوا راوخوټېږي. په روح کې يې کيفياتي هلچل پيدا شي. په درون کې يې داسې حادثه پېښه شي چې د برترو حقيقتونو کړکۍ يې په مخ پرانيزي. همدا موندنه د يوه کار د کاميابي اصلي معيار دى. هماغه کار، کار دى چې بنده ته دغه ډول ډالۍ ورکړي. هغه کار چې بنده ورنه دا شيان نه مومي، هغه همداسې ده لکه په سوري سطل کې اوبه اچول.

د کتو خبره دا نه ده چې تاسې څه کوئ. د کتو خبره دا ده چې له تاسې څه جوړېږي. که ستاسې «بوختياوې» ډېرې زياتې وي، که د ويلو لپاره ډېرې زياتې کارنامې درسره وي، خو دروني هستي مو تشه وي، له تاسې پخپله هېڅ هم نه جوړېږي، نو بيا ستاسې بوختياوې هسې بې ګټې فعاليتونه (Idle Business) دي. نور هېڅ هم نه دي. هوا دې وي مګر اکسيجن دې ورنه ترلاسه نه شي. اوبه دې وي خو تنده دې پرې ماته نه شي. غذا دې وي خو انسان ته دې قوت ورنه ورکړي. لمر دې وي خو رڼا دې نه ورکوي. نو داسې شتون، شتون نه دى، بلکې د شتون بدترينه بڼه

ده. په همدې ډول هغه کار چې د بنده خپله غذا نه ګرځي، هغه کار یوازې بې‌کاري ده بلکې له بې‌کاري نه هم ډېر بې معنا څه.

په کانې اوبه واچوئ، نو په سترګو به کانی لوند شي. شاوخوا ته به یې پرېمانه اوبه تر سترګو کېږي. خو کانی د اوبو په خوند او یخوالي نه پوهېږي، کانې د اوبو دغه بل حیثیت نه دی نه تجربه کړی. خو یو ژوندی انسان چې کله د تندې په وخت کې اوبه څښي، نو رګونه یې ورسره لامده شي او د اوبو د حقیقت یوه «دروني تجربه» تېروي. له دې مثال نه پوهېدی شو چې کول څه دي او کېدل څه دي. کول دا دي چې بنده ځینې ټاکلي کارونه بس په رسمي ډول تکرار کړي. د بنده په ژبه یوه خبره وي، خو دغه خبره یې د زړه درزا نه وي ګرځېدلې. انسان په خپل لاس او پښو یو کار ترسره کوي، خو دغه کار د ده روح لمس نه کړي. د ده حرکات او سکنات د ده په زړه او ذهن کې ارتعاش پیدا نه کړي. خو د دې برعکس کېدل دا دي چې د انسان عمل د ده لپاره روحاني تجربه وګرځي. د ده دروني هستي ته بیا بیا کیفي خواږه ورسېږي. د ده جسماني عمل په غیرجسماني وجود کې هل چل پیدا کړي. هماغه کول، کول دي چې په جریان کې یې بنده پخپله هم یو څه جوړېږي. کوم کول چې جوړېدل نه شي، د حقیقت له پلوه د هغه هېڅ قیمت نشته. دی ګواکې یو داسې کانی دی چې په ظاهر کې په اوبو لوند دی، خو د اوبو خوند یې نه دی موندلی.

## اصل کار اوس هم پاتې دی

په همدې وختونو کې په ځينو اسلامي هېوادونو کې د اسلام په نوم يو لړ هنګامې راولاړې شوې دي. دې هنګامو په ټوله دنيا کې خلکو ته د بحث او خبرو نوې سوژه په لاس ورکړې ده. په غربي ورځپاڼو کې دغه ډول سرليکونه اوس عام ګرځېدلي دي:

**وسله‌وال اسلام په عمل کې؛ د الهي عسکرو اقدام ؛ په اسلامي نړۍ کې د سخت‌درېځي احياء**

په دې کې دا زياتونه هم اړينه ده چې د اسلام «سخت‌درېځي» په ابتدا کې د پرديو د يرغلونو د ځپلو لپاره منځته راغلې وه. خو نن ورځ اسلامي سخت‌درېځي د خپلو د وژلو لپاره په حرکت راغلې ده. له پرديو سره مقابله کول په اسلام کې عين مطلوب دی، خو د خپلو له قتل او تالان سره د اسلام هېڅ تعلق نشته. دا ټول د خلکو خپل له ځانه پنځولی اسلام دی، نه د قرآن او سنت اسلام.

نن ورځ په ټوله دنيا کې په ډېره لويه کچه د اسلام چرچه روانه ده. رسنۍ، راډيو، ټلويزون، تعليمي ادارې، کانفرانسونه، لنډه دا چې له ټولو خپرندويه سرچينو نه د اسلام دومره چرچه روانه ده چې شايد په تاريخ کې به هېڅ کله دومره نه وي شوې. و دې شي چې دا به د دې خبرې علامه وي چې هغه وخت راغلی دی چې د حديث د وړاندوينې مطابق، هېڅ خام او پوخ کور به د مځکې په سر پاتې نه شي چې د اسلام اواز لاره ورته نه وي کړې. البته د مسلمانانو لپاره په دې پېښه کې د خوشالي کوم فرصت نشته. ځکه دا هر څه چې روان دي، په هغه کې د دوی هغه برخه نشته چې په حقيقت کې بايد وای. د قرآن کريم د تجارت لويه برخه نن ورځ د

نامسلمانانو په لاس کې ده. ښکاره ده چې په صحت او نفاست سره د قرآن کریم خپرول یو مطلوب کار دی. خو یقیني ده چې کوم نامسلمانان دا کار کوي، هغوی د دې کار لپاره د خدای په نزد د کوم اجر توقع نه شي لرلی.

زموږ لپاره تر ټولو ډېره د غور وړ خبره دا ده چې د اسلام په نوم په ټوله دنیا کې په هلچل سربېره د اسلام اصل کار اوس هم پاتې دی. د دوو مسلمانانو ترمنځ چې کومه اړیکه ده، هغه د خیرخواهي او اتحاد اړیکه ده. له دې پلوه هماغه تحریک، اسلامي تحریک دی چې د مسلمانانو ترمنځ د ورورګلوۍ تعلق پیاوړی کړي، او د یوه واحد جسماني نظام په ډول یې سره وتړي. مګر اوسنیو تحریکونو د دې بالعکس پایله ورکړې ده. زموږ شته تحریکونو، لږ تر لږه، مسلمانان په فرقو او ډلو باندې وېشلي. تر دې چې د هرې ډلې قرآن او د هرې ډلې حدیث هم بېل، بېل دی. هرې ډلې جلا تنظیم، بېلې رسنۍ، جلا لټریچر، ان الایده جوماتونه جوړ کړي دي. او که له دې ډلو څخه له برابره مرغه کومه یوه یې واک ته ورسېږي، نو هغه که په یوه اداره کې وي یا هېواد کې، نو ټول کوشش یې دا وي چې د بلې ډلې افراد له خپلې دایرې نه دباندې وشړي. او که ممکن وي، نو د توپک او اعدام له لارې یې وجود ته د پای ټکی کېږدي. هره ډله په دې کې لګیا ده چې خپلې کارنامې راوړاندې کړي او د بلې ډلې په کارونو پرده واچوي. هره ډله په دې هڅه کې ده چې د اسلام او مسلمان ملت په نوم د روانو ټولو کارونو کریډټ د ځان په نوم کړي. هره ډله په دې خامخیالي کې مبتلا ده چې حق ټول د دې په ځولۍ کې دی او ناحق ټول د نورو په خوا کې ــــــــــ د رسول الله صحابه د اسلام په ذریعه د اخرت د انعام په لټه کې و، خو د هغوی پیروان نن ورځ د اسلام

په ذریعه د دنیوي انعام په کوشش کې له یو بل سره په سیالیو کې اخته دي.

بیا چې خبره د مسلمانانو او نامسلمانانو خپلمنځي تعلق ته رسېږي، نو معامله نوره هم نازکه ده. د مسلمانانو او نامسلمانانو ترمنځ تعلق په عامه معنا کې د یوه قوم او بل قوم تعلق نه دی، بلکې د داعي او مدعو اړیکه ده. خو په ټوله دنیا کې په بې شمېره اسلامي هنګامو سربېره د مسلمانانو او نامسلمانونو ترمنځ د داعي او مدعو اړیکه ټینګه نه شوه. حال دا چې الله ته له موږ نه اصلاً همدا شی مطلوب دی. مسلمان په دې دنیا کې شاهدان دي او نور قومونه مشهود. خو د مسلمانانو حال دا دی چې دوی د نامسلمانو قومونو سیاسي او مادي سیالان ګرځېدلي دي. تر څو چې داسې ونه شي چې یو د داعي په مقام کې ودرېږي او بل لوری د خپل مدعو په مقام کې ومومي، زموږ له اسلامي فعالیتونو هغه ګټه نه شي لاسته راتللی چې په قرآن کریم کې ښودل شوې او نه په دغه ډول اعمالو د اخرت په محکمه کې زموږ غاړې له خپل مسؤلیت نه خلاصېدی شي. دوه کسان چې خپلو کې پوچ او بد وایي او تاسې هغوی ته د ښو اخلاقو د نصیحت لپاره ورشئ او په سر یې یوه لویه تیره ور ګوزار کړئ، نو په دې کې ستاسې لپاره هېڅ هم نشته. ځکه په ظاهر کې خو د بد رد له ویلو نه د منع کولو پیښه شوې ده. مګر ستاسې او د بد ویونکو په منځ کې د مصلح تعلق نه دی جوړ شوی. نو بیا د خدای په نزد په دې کار څه اجر ترلاسه کولی شئ؟

په اوسنۍ زمانه کې د نامسلمانانو په نظر کې مسلمانان بس د عادي قومونو په څېر د یوه قوم حیثیت لري. او د دې تصور په لرلو کې هغوی په

حق دي. اسلامي شخصیتونه او اسلامي ډلې تر خپلو ګاونډیو نامسلمانو قومونو پورې د الهي پیغام د رسولو لپاره په ځان کې هېڅ لېوالتیا نه پالي. البته په مسلمانانو باندې د نامسلمانو قومونو د «مظالمو» په خلاف د احتجاجي بیانونو په خپرولو کې هر یو له بل نه مخکې کېدل غواړي. که د دوی د اقتصاد یا سیاست په کومه برخه نامسلمانانو ولکه وکړه، نو دوی سمدستي د دوی په خلاف د پاڅون او بغاوت لپاره راپورته شي. په دوی کې هېڅ کله دا فکر سر نه وهي چې د دغه ډول هنګامو له لاسه نامسلمان قوم موږ خپل دنیوي حریف ګڼي او په پایله کې یې اسلامي تحریک د هغوی په سترګو کې اخروي تحریک نه پاتې کېږي بلکې یو ډول دنیوي تحریک ورنه جوړېږي. ځینې مسلمانان اسلام، د طلسماتي ټولګې په څېر وړاندې کوي. ځینې مسلمانان دي چې اسلام د سیاسي احکامو د مجموعې په حیث رامخې ته کوي. له دې ځایه، عامو خلکو ته اسلام یا خو د نورو مذاهبو په څېر یو رسمي مذهب په نظر ورځي یا د کمونیزم په څېر یو سیاسي مذهب ـــــــــ د قرآن کریم مطابق، د مسلمان کار **شهادت علی الناس** دی. زموږ مسؤلیت دی چې موږ له جهنم څخه د خلکو وېروونکي او د جنت زېری ورکوونکي وګرځو. خو د مسلمانانو حال دا دی چې هغوی د سیکولرزم له احیاء راواخله د خپلو حقونو د ترلاسي پورې د بې شمېره کارونو لپاره له نامسلمانو قومونو سره لاس او ګرېوان دي. خو د هماغه یوه کار لپاره نه راپورته کېږي چې الله تعالی اصلاً په دوی فرض ګرځولی دی. دا غفلت دومره ستر دی چې اندېښنه ده چې مسلمانان دې د الله په نظر کې بې قیمته شي. او بیا نه په دنیا کې د خدای سیوری ورته حاصل شي او نه په اخرت کې.

## لرغوني اسماني صحيفې

له حضرت موسی علیه السلام نه وروسته درې داسې موقعې راغلې چې غیر اسرائیلي قدرتونو د بابیل «زړه عهدنامه» له منځه یووړه. لومړی د بابل پادشاه بخت نصر (۵۶۴- ۶۰۵ق‌م) په ۵۸۶ کې په ټول فلسطین حمله وکړه او بیت المقدس ته یې اور واچاوه چې حضرت سلیمان د تورات تختې په کې ایښې وې. پنځوس کاله وروسته عزرا نبي له سره له خپلې حافظې نه تېرې پنځې صحیفې خلکو ته ولیکلې. بیا نحمیاه ځینې نور کتابونه په کې اضافه کړل. په دویمه پلا کې څلورم انطیوخوس، چې د یوناني انتاکیې پادشاه و، په بیت المقدس باندې په ۱۶۸ق‌م کې برید وکړ او مقدسې صحیفې یې وسېځلې. یهودا مقابي له ځینو زیاتونو سره دغه صحیفې له سره مرتبې کړې. دریم ځل رومي پادشاه تیتس (۸۱-۴۰ز) په ۷۰ز کې په بیت المقدس برید وکړ او له سلیماني هیکل سره یې برباد او د خاورو په ډېریو بدل کړ.

تر کومه چې د نوې عهدنامې خبره ده، په دې باره کې فرانسوي مستشرق موسیو ایتن دین لیکلي دي:

«الله چې کوم انجیل حضرت عیسی علیه السلام ته د هغه او د هغه د قوم په ژبه ورکړی و، هغه خو هېڅ شک نشته چې له منځه تللی دی او اوس یې نوم او نښان هم پاتې نه دی. یا خو هغه پخپله تلف شوی دی یا قصداً له منځه وړل شوی دی. له همدې امله عیسویانو د هغه په ځای څلور «تالیفات» ور خپل کړي چې صحت او تاریخي حیثیت یې په شک کې دی. ځکه دا کتابونه په یوناني ژبه دي چې مزاج یې د حضرت عیسی علیه له اصلي سامي ژبې سره هېڅ مطابقت نه خوري. د همدې لپاره له

خپل نازلوونکي سره د دغو يوناني انجيلونو اړيکه د يهودو د تورات او د عربو له قرآن نه خورا ډېره کمزورې ده. (**اضواءعلى المسيحيه ۵۲-۵۳**)

⋆

## دا د ساينس او مذهب تصادم نه و

په ابتدا کې چې کومو خلکو د ساينسي څېړنو په ډګر کې کار وکړ، هغوی په هېڅ درجه کې هم مذهب سره مخالف نه وو. آيزک نيوټن (۱۷۲۷-۱۶۴۲) چې کله د اسماني اجرامو د حرکت قوانين کشف کړل، نو خپل يوه ملګري ته يې وليکل: «د سيارو مسلسل حرکت يوازې د جاذبې د قوې له امله نه شي کېدی، د دې لپاره الهي لاس (Divine Arm) پکار دی.» ډاروين چې خپل کتاب د انواعو اصل وليکه نو په صافو ټکو کې يې د خالق (Creator) د وجود اقرار وکړ او خپل کتاب يې په دې ټکو پای ته ورساوه: «د ژوند په دې تصور کې څومره عظمت دی چې خالق په ابتدا کې د ژوند ځينې ساده نوعې پيدا کړې او له هغو نه د ژوند خورا ساده او حيرانوونکي انواع منځته راغلل.»

په دې سربېره ولې داسې وشول چې ساينس د مذهب دښمن وګرځېد؟ د دې وجه په حقيقت کې د ساينس او مذهب ترمنځ کوم تصادم نه و، هغسې چې ډرېپر (۱۸۸۲- ۱۸۱۱) او نورو خلکو ګڼلې ده. دا په اصل کې د ساينس او لرغوني علم کلام تصادم و چې د مصري او يوناني فلسفو په بنياد وضع شوی و نه د خدايي مذهب په بنياد. د مذهب استازو په غلطۍ سره دې ته د مذهب او ساينس د تصادم په سترګه وکتل او له ساينس سره يې مخالفت راواخيست. د دې اشتباه پايله دا شوه چې يو زماني ځواک چې د مذهب خادم کېدی شوی، له اولې ورځې د مذهب حريف وګرځېد.

★

## د اخرت له اعمالو د دنیا فایده غوښتل

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د یوه روایت له مخې، رسول الله صلی الله علیه وسلم د فتنې زمانې ته په اشارې وفرمایل:

**وقَلّت فُقهاءُکم وکَثُرت قُرّاءُکم وتُفقّهَ لِغَیرِ الدینِ والتُمِسَت الدنیا بِعَملِ الآخرِة.**

ژباړه: د فقهاوو شمېر به کم شي او د دین زده کوونکي به ډېر شي. دین به د دنیا لپاره تدریسېږي او د اخرت په عمل به دنیا لټول کېږي.

د اسلامي امت انحراف دا نه دی چې هغوی به د دین نوم نه اخلي یا به یې د دین ظاهري شکلونه له منځه تللي وي. داسې نه له تېرو امتونو سره شوي او نه به کله له اسلامي امت سره وشي. د امت انحراف دا دی چې دین د دنیا لپاره ترسره شي ـــــــ دیني کار په دې جذبه ترسره شي چې له دې لارې به په مال او اولاد کې برکت پیدا شي. د دین او ملت په نوم چندې راټولې شي او په خپلو شخصي مفاداتو کې وکارول شي. د جاه او اقتدار هنګامې راپورته کړای شي او دلیل ورته له قرآن او سنت نه راوړل شي. بنده د خدای له حرام او حلال نه بې پروا پیسې وګټي او له هغه وروسته چې خپل ځان ته کور جوړ کړي، نو په دروازه یې ولیکي **هذامن فضل ربي** (دا مې د رب فضل دی)؛ د ده عملي ژوند په دین پورې هېڅ تعلق ونه لري او چې کله یې خپل خدای فراموشه ژوند د کار خاوند کړي نو د خپل موټر لپاره د ۷۸۶ شمېرې پلېټ راوباسي تر څو موټر یې له حادثاتو خوندي وي. د دې انحراف وروستی شکل دا دی چې بنده د خدای د دین داسې تشریح او تفسیر وکړي چې هغه دین چې د اخرت د خبرداري لپاره راغلی و، د دنیوي او سیاسي هنګامو عنوان وګرځي.

موږ په یوه داسې دنیا کې یو چې په هره خوا کې د خدای او مذهب غوغا جوړه ده. خو په حقیقي ژوند کې د خدای او مذهب هېڅ ځای وجود نشته. په مذهب باندې لیکنې، تماشې او تقریري مشاعرې په دومره کثرت سره روانې دي چې په تېر تاریخ کې هېڅ بل مثال نه لیدل کېږي. خو د مځکه او اسمانونو د هغه انسان په لیدو پسې سترګې سپینې شوې چې په رښتیا له خدایه ډارېږي او په سنجیده ډول یې مذهب په خپل عملي ژوند کې ورخپل کړی وي. د لفظي مذهبي قهرمانانو په هجوم کې حقیقي مذهبي قهرمان داسې نایاب دی چې په پیدا کولو هم نه پیدا کېږي.

د خلکو حال دا دی چې د انصاف او انسانیت نعرې به لګوي، خو عملاً یوازې د خپلې شخصي ګټې په سطحه کې ژوند تېروي. د یوه ذاتي ګټه پیسې ګټل دي او د بل لپاره عزت، شهرت، مرتبه او اقتدار ترلاسه کول. څوک د «پیسو» په ټولو پسې لګیا دی او څوک د «رایو» په مسایلو کې نښتی دی. څوک د کور او کاروبار په دایره کې د خپلې ایندې خوبونه ګوري او چا د ستېژ او رسنیو په دنیا کې څرګندېدل د خپلو توجهاتو مرکز ګرځولی دی. د خدای مځکه له داسې انسانانو نه تشه په تر سترګو کېږي چې د خدای په یاد کې ژوند تېروي، چې د اخرت په فکر کې دردېږي، چې خپل ځان یې د انصاف په تله کې درولی وي، چې دنیا ورته له خپلې ټولې ښېرازي باوجود، ښېرازه نه وي بلکې یو لوی زندان ګرځېدلی وي.

## چې بنده د انسانیت له سطحې د حیوانیت سطحې ته وغورځي

د حضرت سلیمان علیه السلام د حکومت په زمانه (۹۷۳- ۱۰۱۳ق م) کې د بحرِ قلزم د ختیځ بناخ په غاړه په ایلات (Elath) سیمه کې یهودي پرګنې مېشتې وې. هغوی د سبت له قانون نه سرغړونه وکړه. د هغوی په شریعت کې د سبت (سنیچر) په ورځ په اقتصادي فعالیتونو بندیز وو. خو دوی په دې ورځ هم د ماهیانو په ښکار پسې ووتل. د سنیچر په ورځ به ماهیان په ډېر کثرت سره سیند ته راتلل او په نورو ورځو کې به د اوبو تل ته تللي وو. یهودو دا شرعي تدبیر وکړ چې د سیند په څنډو کې یې کوهي جوړ کړل. دوی به د سیند اوبه راپرېږ کړې او له دې کندو سره به یې وصل کړې. دا تدبیر به یې د دې لپاره کاوه چې په دوی دا خبره رانه شي چې ګنې دوی د سبت په ورځ ښکار کړی دی. د دین په نوم دغه بې دیني په خدای دومره بده ولګېده چې په دوی د خدای لعنت ولوېد. او په شادیانو او خنځیرانو بدل کړای شوو. (مائده: ٦٠) سره له دې چې له عملي پلوه همدا د ټول یهودي قوم حالت و، خو په یوه خاص مقام کې د یهودو باطن هم په ظاهري ډول مجسم کړای شو تر څو د نورو لپاره عبرت وګرځي. (بقره: ٦٦)

بې دیني د دین په نوم کول تر ټولو ناوړه جرم دی. د دې نتیجه دا کېږي چې ورو، ورو له انسان نه د ښه او بد فرق ختم شي. او په یوه بې حسه انسان بدل شي. ده ته دین او بې دیني دواړه یو شان په نظر ورځي او د انسانیت له سطحې نه د حیوانیت سطحې ته راغورځي. ان دا نوبت راورسېږي چې د بیزو او خنځیر اخلاقیات په کې پیدا شي.

د بیزو ځانګړنه څه ده؟ فساد او بې حیايي. یوه کور ته چې د شادیانو ټولی ورننوځي، نو سمدستي به درز او غوبل په کې شروع کړي. همدې ته ورته حال د دې قوم هم شي. هغوی په ژبه د خدای انکار نه کوي. خو له عملي پلوه هغوی په داسې ډول د خدای په مځکه اوسي ته وا د دې مځکې هیڅ څښتن نشته، ته وا هیڅ کله به خدای سره نه مخ کېږي او نه به د خپلو کړو حساب ورکوي ـــــــ ګډوډي، بې مسؤلیته ژوند، بې معنا اقدامات، خپلمنځي چور او تالان، په یو بل غُرېدل، د همدردي او انصاف په ځای ظلم او فساد خپله تګلاره ګرځول، دا د دې قوم معمول ژوند وګرځي. دا ډول خلک په ظاهر کې انسانان خو عملاً بیزو صفته وي.

د خنځیر ځانګړنه څه ده؟ پاک شیان پرېښودل او چټل شیان خپل خوراک ګرځول. د دې یو شکل هغه دی چې د ګټې او راکړې ورکړې په بڼه څرګندېږي. انسان په حلالو لارو قناعت نه کوي او په حرامو خپله ګېډه ډکوي.(مائده ٦٣) بل شکل یې هغه دی چې په قرآن کریم کې په دې ټکو کې بیان شوی دی: او که سمه لار ووینې، د لارې په توګه یې نه خپلوي خو که د کوږوالي لار ووینې نو هغه د لارې په توګه خپله کړي. (اعراف: ۱۴۶)

د داسې خلکو حال دا شي چې هغوی د مثبتو شیانو په ځای منفي شیانو ته ور ځغلي او د اصلاح د کارونو په لور یې هیڅ زړه نه غواړي. البته داسې کارونو ته ډېر په منډه ورغورځي چې پایله یې د نسلونو او کروندو هلاکت وي. د دوی په وړاندې د رغنیزو کارونو فرصتونه پرانیستي وي، خو دوی دغه فرصتونه پرېږدي او د تخریب په لارو کې تېزي ښکاره

کوي. د انسانانو لپاره د منفعت رسونې شوق په کې نه پارېږي. البته د نقصان رسولو په نعره ډېر په اسانه راټولېږي. د پټې خولې په خدمت کې د دوی لپاره جذابيت نه وي، البته له نمايشي هنګامو سره ښه دلچسپي ښکاره کوي. د حقيقي ګټې په طرحو کې ورته هېڅ کله کشش نه وي، البته په بې ګټې بوختياوو کې خپل وخت او مال ښه د زړه له اخلاصه لګوي. ان نوبت يې تر دې ځايه ورسېږي چې د يکي يوه خدای عبادت ته يې چې راغواړئ، نو لبيک به ونه وايي، البته د ژونديو يا مړو شخصيتونو د پرستش په نوم به ډلې، ډلې راغونډ شي.

## د اسلامي مقصد ماخذ: د عبادت آیت که د خلافت ایت

؟

سوال: نن ورځ په مسلمانانو کې دوه ډوله مذهبي فکرونه دود دي. یوه ډله په حکومت ټینګار کوي، بله ډله په عبادت. په دې اړه ستاسې څه خیال دی؟

ځواب: زموږ خیال دی چې په دواړو ډلو کې چې کوم فرق دی، هغه د دین او بې دیني فرق نه دی. بلکې د دیني تصور یا د دیني تعبیر فرق دی. دا فرق په یوه ټکي کې دا دی چې یوه ډله د خپل هدف، تصور د خلافت له آیت نه اخلي او بله ډله یې د عبادت له آیت نه. د یوه په نزد **اني جاعل في الارض خلیفة** (الله وویل چې زه په ځمکه کې خلیفه پیدا کوونکی یم) هغه قرآني آیت دی چې د اسلام هدف ورنه لاسته راځي. د دې بالعکس د بلې ډلې په نزد چې له کوم آیت نه اسلامي مقصد راوځي، هغه دا آیت دی:

**وما خلقت الجن و الانس الا لیعبدون؛** ما جن او انس یوازې د خپل عبادت لپاره پیدا کړي دي.

د خلافتي فکر مطابق ځمکه د خدای د سلطنت یوه برخه ده او په دې برخه الله تعالی انسان د خپل سلطنت استازی ګمارلی دی تر څو د خدای قوانین وربانديې نافذ کړي. په بله خوا کې د عبادتي فکر د فکر طرز دا وي چې انسان د خدای عبد (بنده) دی. د همدې لپاره د خپل رب د رضا د ترلاسي لار دا ده چې بنده د هغه عبادت وکړي، د هغه په وړاندې خپل ځان وغورځوي.

د دې مطلب دا نه دی چې د خلافتي فکر ډله عبادت نه مني یا د عبادتي فکر لرونکو په نزد «خلافت» کوم ارزښت نه لري. دا فرق یوازې په هغه معنا کې ده چې یوه ډله د دیني تعلیماتو مجموعې ته له کوم لیدلوري ګوري. که څوک قرآن کریم د قتال د آیتونو له مخې راګوري، نو قرآن د جنګ کتاب ورته ښکاري شي. د دې

بالعکس څوک یې چې د خشیت (وېرې) د آیتونو په رڼا کې ګوري، هغه ته به قرآن د تقوا کتاب په نظر ورځي. همدغه شان فرق په یادو دوو ډلو کې هم موندل کېږي. خلافتي ډله له خلافت نه د عبادت په لور ځان رسوي. دغه ډله د عبادت په معنویت هماغه وخت پوهېږي چې د حکومت او سیاست په قالب کې یې واچوي. د دې بالعکس دا بله ډله د عبادت له نګاه نه په خلافت ځان پوهول غواړي. د دې په نزد عبادت پخپل ذات کې مقصود دی او نور ټول شیان هماغه وخت بامعنا دي چې د عبادت له سرچینې راووځي.

د دې فرق یوه نتیجه دا ده چې پخپله د خلافت او عبادت په تصور کې دې د دواړو ډلو ترمنځ فرق پیدا شي. د خلافتي ډلې په نزد د اسلامي حکومت رامنځته کول د دین بشپړه غلبه ده او د عبادت حیثیت دا دی چې عبادت د اسلامي حکومت د داعیانو یا کارکوونکو د تربیت او اصلاح ذریعه ده. حال دا چې د عبادتي ډلې ذهن دا دی چې د الله حقیقي عبادت ګزاري بشپړه مسلماني او بشپړه دینداري ده. او تر کومه چې د خلافت یا حکومت تعلق دی، د هغه حیثیت د یوه دنیوي مسؤلیت حیثیت دی چې په ځانګړو حالاتو کې له مسلمانانو څخه مطلوب وي. بله دا چې دغه مسؤلیت هم، د نورو ډېرو شرعي مسؤلیتونو په څېر مشروط مسؤلیت دی، او کله په سرې لازمېږي او کله نه لازمېږي.

★

# په قرآن کې د پنځو لمونځونو حکم

### «په لمانځه کې ناړامي بې عملي او د لمانځه حکم بدلول سرکښي»


فرض لمونځونه پنځه دي، دا له روایتونو نه په تواتر سره ثابت دي. په بخاري، مسلم، ترمذي، نسائي او د حدیثو په نورو کتابونو کې په کثرت سره داسې روایتونه شته چې د **الصلوات الخمس** ټکی په کې راغلی دی. له دې نه په صراحت سره ثابتېږي چې فرض لمونځونه پنځه دي چې په ځانګړو وختونو کې مقرر شوي دي. خو په قرآن کریم کې په لمانځه باندې په خورا ډېر تاکید سربېره د «پنځو» ټکی نه دی راغلی. له دې نه ځینو خلکو ته د دې خبرې فرصت په لاس ورغلی دی چې د فرض لمونځونو شمېر پنځه نه دی بلکې درې یا له هغه نه کم دی. دوی لومړی د حدیثو له حجیت نه انکار کوي او له هغه وروسته وایي چې د قرآن کریم مطابق پنځه وخته لمانځه ته اړتیا نشته. خو دا مازې فریب دی. که یو شخص سنجیده وي او په رښتیا غواړي په دې مسئله پوه شي نو له قرآن نه هم بې له شبهې دا ثابتېږي چې فرض لمونځونه پنځه دي او په ټاکلي وخت یې کول د هر مسلمانان لپاره اړین دي.

په دې تړاو د قرآن په لاندې آیت غور وکړئ:

حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى (بقره:۲۳۸)

ژباړه: د ټولو لمونځونو او هغه د غوره ( یا منځني) یې ښه ساتنه (ټینګتن) کوئ.

د جملې ترکيب راته وايي چې په دې آيت کې د **صلوةالوسطی**ټکی چې د کوم لمانځه لپاره راغلی دی، هغه له صلوات نه بېل لمونځ دی. ياني دا ويل شوي دي چې د «لمونځونو» ساتنه وکړئ او ورسره د هغه لمانځه چې وخت يې د «لمونځونو» په منځ کې راځي. صلوات جمع کلمه ده چې د عربي قواعدو له مخې لږ تر لږه د درې لمونځونو لپاره راځي. خو استعمال يې راته وايي چې دلته ورنه له درې لمونځونو نه ډېر مراد اخيستل ضرور دي. ځکه که د درې شيانو په منځ کې څلورم شی کېښودل شي، نو هغه د «منځ» شی نه شي کېدی. هغه ډېر کم عدد چې په دې ځای کې له صلوات څخه هدف کېدلی شي، هغه څلور دی. يوازې د څلورو په صورت کې دا ممکن دی چې يو بل لمونځ دې داسې په کې ځای شي چې د ټولو په منځ کې راشي. ګواکې **صلواةوسطی** هغه منځنی لمونځ دی چې دواړو خواوو ته يې دوه، دوه لمونځونه دي. د مفهوم له پلوه به د آيت ترجمه داسې وي ـــــــــ «د منځني لمانځه ټينګتن وکړئ. او د منځ له لمانځه نه مخکې د دوو لمونځونو او د منځ له لمانځه وروسته د دوو لمونځونو.» له دې نه صفا ښکاري چې د شپې هم دوه لمونځونه فرض کړای شوي دي او بيا په ورځ کې هم دوه. او په منځ کې يې يو لمونځ دی. د شپې له دوو لمونځونو نه مراد د ماښام او ماخوستن لمونځونه دي. د ورځې له دوو لمونځونو نه مراد سهار او ماسپښين او د منځ له لمانځه نه مراد د مازديګر لمونځ دی. په دې سره ټول پنځه لمونځونه کېږي. لاندې نقشه وګورئ:




**ساتنه وکړئ د لمونځونو او ساتنه وکړئ د هغه لمانځه چې د لمونځونو په منځ کې دی. (قرآن)**

بیا دا خبره هم په قرآن کې بالکل روښانه ده چې لمونځ په ایمان لرونکو باندې په ټاکلو وختونو کې فرض شوی دی. (**ان الصلوة کانت علی المؤمنین کتاباً موقوتا، نساء ۱۰۳**) په دې تړاو چې له احادیثو نه کوم پنځه وختونه معلومیږي، هماغه وختونه پخپله له قرآن نه هم ثابتیږي. مثلاً د قرآن کریم لاندې ځایونه وګورئ:

| | | |
|---|---|---|
| ۱- له لمر ختو مخکې | (قبل طلوع الشمس، ط ۱۳۰) | سهار |
| ۲- د غرمې د زوال په وخت | (لدلوک الشمس، بني اسرائیل ۷۸) | ماسپښين |
| ۳- له لمر لوېدو مخکې | (و قبل غروبها، ط ۱۳۰) | مازدیګر |
| ۴- کله چې ماښام شي | (حین تمسون، روم ۱۷) | ماښام |
| ۵- چې شپه تیاره شي | (الی غسق اللیل، بني اسرائیل ۷۸) | ماخوستن |

په دې ډول له قرآن نه پنځه لمونځونه له خپلو ټاکلو وختونو سره ثابتیږي.

پاس چې کوم خبرې وشوې، هغه د یوه داسې شخص لپاره کافي دي چې په رښتیا غواړي په خبره ځان پوه کړي او د دې هیله لري چې کله د

خدای حضور ته ورشي، نو الله ورنه راضي وي. خو هغه خلک چې د بحث او جدال په سطحه کې دي، د هغوی خولې په هېڅ دليل هم نه شي تړل کېدی. د دوی خولې به هماغه وخت تړل کېږي چې الله له خپلو ټولو قدرتونو سره راڅرګند شي او له دوی نه د هر راز خبرو فرصت واخلي.

***

د لمانځه اصلي مقصد د خدای يادول دي. خو د دې عبادت نظام دومره په حکمت اوډل شوی دی چې د ژوند ټولې تقاضاوې په خورا هراړخيزه توګه په کې راټولې شوې دي. لمونځ د اتحاد او ټولنيز ژوندانه سبق دی. لمونځ بنده له خپل رب سره وصلوي. په موږ کې د مسؤليت احساس پيدا کوي او زموږ وختونه راته منظم کوي. د هوسا بدني ورزش ګټه رسوي. په بيا، بيا زموږ د پاکي سبب ګرځي. او داسې نور. حقيت دا دی چې لمونځ د هر ډول روحاني او جسماني برکتونو ګټېدی ده. که مسلمانان له حقيقي شعور سره په لمانځه ټينګ شي، نو دنيا به يې بدله شي او همدا لمونځ به يې د ټولو مسايلو د حل لپاره کافي شي.

★

## انسان هرې خبرې ته يو ځواب پيدا کوي. (کهف ۵۴)

يوه شخص بې معنا شور او غوغا اچولې وه.

بل سړي ورو ورته وويل: وروره غلی شه.

هغه ځواب ورکړ: ماته د چوپتيا وايې او پخپله چيغې وهې.

---

په سړک لاروی په سمه لار روان و.

له شا نه يو ځوان تېز په بايسکل راغی او لاروی يې وواهه.

لاروي بايسکل ځغلوونکي ته وويل: «گنټۍ دې ولې ونه وهله؟»

ځوان په غوسه وويل: «که گنټۍ نه وي بيا...»

لاروي بيا وويل: «نو بريک دې ولې ونه نيوه؟»

ځوان وويل: «که بريک نه وي بيا؟» او بيا يې لاروي ته په برگو سترگو وکتل او په خپله مخه روان شو.

---

يوه شخص قبر ته سجده کوله.

بل کس ورته وويل: وروره! خدای ته سجده وکړه. قبر ته سجده کول روا نه ده.

لومړی کس له لښتې سره په سړي پسې ورمات شو.

هغه ورته وويل: وروره! وهې مې ولې؟

لومړي شخص وويل: نو څه گلان درباندې وشيندم؟

---

يو کس په يوه اداره کې استوگن ملازم و.

د اداري مشر ناڅاپه يوه ورځ ورته وويل: له سبا نه خپله خونه خالي کړه.

ملازم وويل: همدا خونه خو زما دفتر هم دی. که خونه پرېږدم، نو کار به چېرته کوم.

مشر ځواب ورکړ: زه درته وايم چې خونه خالي کړه او ته راسره بحثونه کوې.

---

يوه شخص ايراني رهبر ته وويل: دا کوم اسلام دی چې سينما ته اور واچول شي او څلور سوه مسلمانان په کې وسوځول شي؟

«موږ کله اور لګولی؟ دا کار خو د شاه استازو زموږ د پاڅون د بدنامولو لپاره کړی.»

★

## خلک د انساني محکمو په باره کې سنجده دي، خو د خدايي محکمې په باره کې نه

يو شخص وکيل و او په خوا کې هم شاعر هم و. ده به د وکالت دنده کوله. يو ځل په قضيه کې د مقابل لوري نوم عبدالباقي و. د بحث په جريان کې نوموړي وکيل قاضي صاحب ته وويل: حضور! د ده نوم عبدالباقي دی. له همدې نه ثابتېږي چې په ده باندې زموږ حق باقي دی. قاضي ورته وويل: ښاغلی وکيل صاحب! دا د محکمې خونه ده. د مشاعرې تالار نه دی. په دې خبره وکيل صاحب سمدستي سنجيده شو او په قانوني ژبه يې خبرې پيل کړې ـــــ د دې وجه څه وه؟ د دې وجه دا وه چې وکيل صاحب ته معلومه وه چې پرېکړه د ده په واک کې نه ده، بلکې د محکمې په لاس کې ده او محکمه چې هره پرېکړه کوي، د قانون له مخې به يې کوي، نه د ادبي موشګافيو له مخې.

دغه ډول پېښې د دين په برخه کې هم پېښېږي. انسان له خپله ځانه يوه نظريه پنځوي يا يوه ديني عقيده جوړوي او وايي چې همدا د الله او رسول دين دی. د ده په وړاندې د قرآن او حديث حقايق راوړل کېږي چې په صراحت سره دا ثابتوي چې دی د الله له ښودلې نېغې لارې نه کوږ شوی دی. خو دی يې منلو ته غاړه نه ږدي. او خپل بې بنياده بحث ته دوام ورکوي. د دې وجه دا ده چې دی په دې يقين نه لري چې پرېکړه به په «بله محکمه» کې کېږي نه د ده په خپله محکمه کې. که دی د الله محکمه هم هماغسې وګوري چې ياد وکيل انساني محکمه په پرانيستو سترګو ليده نو سمدستي به سنجيده شي. او د بحث او جدال په ځای به د خدای په کتاب او د رسول په سنت کې غور کول پيل کړي او بلاخره به هغه حقيقت ومني چې له مرګ نه وروسته به يې هر يو منلو ته مجبور وي.

★

## داسې ژوندي انسانان په موږ کې ولې نشته؟

هندوستاني انجينران په بې ګټې ودانيو او بې ضرورته ډيزاينونو ميليونونه پيسې بربادوي. د دې په مثال کې کې ډې مالويه (د معدنيانو پخواني وزير) ووېل چې په مشرقي هندوستان کې په يوه پله باندې کار روان و. په دې جريان کې په پله باندې ډريل ماشين ته اړتيا شوه. په پله باندې دې وخت کې دوه انجينران وو. يو روسی او بل هندوستانی. هندوستاني انجينر ووېل چې د ډريل درووند ماشين که پله ته پورته شي، پل به مات شي. نو ماشين دې تر هغو پورې پله ته نه وړل کېږي چې د پله په استحکام باندې نور کار هم نه وي شوی.

روسي انجينر له دې خبرې سره موافق نه و. هغه په دې نظر و چې موږ د ډريل ماشين پله ته وړلی شو او پله ته ورنه هېڅ خطر هم نشته. بحث زيات شو تر دې چې خبره تر ياد وزير پورې ورسېدله. روسي انجينر د خپل ليدلوري په دفاع کې ووېل: په روسيه کې زما مېرمنه او بچي دي او هغوی ډېر زيات راباندې ګران دي. خو زه دې ته تيار يم چې تر پله لاندې ودرېږم او ماشين دې پله ته وخېژول شي.» د خپلې خبرې د ثابتولو لپاره روسي انجينر په رښتيا همداسې وکړل او رک روغ ورنه راووت.

★

## څوک چې ماتې ومني، هماغه له چمتووالي وروسته بېرته د خپل سيال په مقابل کې بريالی کېږي

په ۱۵ فروري ۱۹۷۸ ټولې دنيا په ډېرې حيرانتيا دا خبر واورېد چې د بوکسينګ مشهور اتل محمد علي ته يوه تازه‌دمي لوبغاړي ليون سپنکس ماتې ورکړه. اوس د محمد علي لپاره يوه لاره دا وه چې عموماً ناکامه شوي سياسيون يې غوره کوي. په يوه اخبار کې يې د داورانو د «درغلی» غوغا اچولې وای. له خپلو جذباتي ملاتړو سره يې د سپنکس په خلاف د کرکې تبليغات کړي وای. د هغه د وژلو يا په هغه د عريضې ګولو هڅې يې کړې وای. له ځانه يې يو لقب جوړ کړی او له خپل نوم سره لګولی وای او بيا يې دا خيال کولی چې دی اوس هم د لوبې د دنيا «امام» دی. که محمد علي دغه ډوله لاره غوره کولی، نو د دې کار لپاره پيسه هم ورسره وې او ملګري او ملاتړي هم. خو هغه دغه ډول ټولې طريقې پرېښودې او د زحمت او خوارۍ او په پټه خوله د چمتووالي طريقه يې ونيوله.

له ماتې وروسته، د برنامې له مخې محمد علي د فبروري ۱۹۷۸ په دريمه اوونۍ کې بنګله دېش ته پنځه ورځنی سفر وکړ. ده ته يې په بنګله دېش کې افتخاري تابعيت ورکړ او په امريکا کې يې د بنګله دېش افتخاري قونسل هم اعلان کړ. په دې موقع کې په ۲۲م د فبروري د ډهاکه په يوه خبري کانفرانس کې خبريال له محمد علي نه پوښتنه وکړه چې ايا تاسې د ليون سپنکس په وړاندې د داورانو پرېکړه سمه پرېکړه ګڼئ. محمد علي په واضحو ټکو کې ورته وويل:

«دا يوه بالکل سمه پرېکړه وه.»

علي په صفا ټکو کې د خپلې ماتې اعتراف وکړ او ويې ويل:

زه د خپل سيال په اړه په محاسبه کې تېروتی وم او غلطه سيالی مې ورسره وکړه. زما پلان سم نه و ځکه زه د سپنکس په باره کې په ډېر څه نه وم خبر.

محمد علي له هغه وروسته د خپل ژوند لپاره نوی پلان جوړ کړ او په منظم تياري يې لاس پورې کړ. ده به ټوله ورځ منډې وهلې او غرونو ته به هسکېده. ډکې بوجۍ ته به يې سوکان ورکول او خپل لاسونه يې روزل. په خوا کې يې

عبادت او دعا هم کوله چې خدای یې په راتلونکې مقابله کې بریالی کړي ـــــ محمد علي ۳۶ کلن و او سپیال یې لیون سپنکس ۲۵ کلن، یانې د دواړو په عمر کې یوولس کاله فرق دی. شنونکې په دې نظر وو چې د محمد علي عمر ډېر شوی او اوس له خپل ځوان سیال نه میدان نه شي وړلی. خو محمد علي په پوره جوش او پام خپل چمتووالي ته دوام ورکړ. دی به هر سهار پنځه بجې راویښ شو چې رڼا به نه وه راختلې او خلک به په نرمو بسترو کې ویده وو او په درې میله غزنې لاره به یې منډلې وهلې. او بیا به ټوله ورځو په ډېرو سختو تمرینونو کې لګیا و.

په اګست کې، له سیالی نه څو ورځې مخکې، هغه په ډیرلیک (پنسلوانیا) کې لوبه کړې وه او اعلان یې کړی و چې د ۱۵ سپتمبر په سیالۍ کې به زه خپل نوم بېرته ګټم. په راپور کې راغلي وو چې ۳۶ کلن علي نن سبا په خپل بوکسینګ کلب کې په ډېرو سختو تیاریو کې لګیا وي. او ډېر زیات سنجیده شوی دی.

د راپوره یوه جمله دا وه:

د محمد علي ملګري وايي چې موږ مخکې محمد علي د دومره سختې خوارۍ په حال کې هېڅ کله نه دی لیدلی.

د دغسې زحمت او چمتووالي له شپږو سختو میاشتو وروسته محمد علي په ۱۶ سپتمبر ۱۹۷۸ یو ځل بیا له سپنکس سره سیالي وکړه او ډېره زبردسته بریا یې خپله کړه. سپنکس له بریا وروسته په عیاشیانو سر شوی و تر دې چې له ترافیکې قوانینو نه د سرغړونې په جرم کې پولیسو جریمه کړی هم و. حال دا چې محمد علي پرلپسې په خپله تیاري کې مشغول و.

ماتې منل ډېر لوړ انساني صفت دی. د واقعیت اعتراف دی. د دروغو لاره پرېښودل او د رښتینولۍ لاره غوره کول دی. څوک چې خپله ماتې ومني، په هغه کې حقیقت‌پلوی مزاج راټوکېږي. په سنجیده توګه د حالاتو په ارزونه لاس پورې کوي. د خپلو کمزورتیاوو له پېژندو وروسته له سره خپله طرحه جوړوي. د خپل سیال په خلاف د لفظي توپان د جوړولو په ځای د جګړې په ډګر کې له هغه سره د سیالۍ تیاری نیسي. ها پلو، د ده سیال د خپلې بریا په خوشالۍ کې ډوب

وي. او دې پلو کې، دی د خپلې ماتې له احساس سره په سنجیده چمتووالي کې مصروف وي ـــــــ د دې خبرو پایله دا راوځي چې هغه شخص چې د جګړې په ډګر کې یې بایللې وي، هغه بېرته خپل سیال ته ماتې ورکوي او بریالی کېږي.

★

★

د نبي صلی الله علیه وسلم حضور ته یوه قضیه راغله. یوه شخص په ناروا د بل سړي مځکه غصب کړې وه. خو د نومړي قانوني دریځ دومره مکمل و چې په ظاهر کې د هغه په خلاف پرېکړه کول مشکل کار و. رسول الله وفرمایل «که ستا د هوښیارۍ په سر ما ستا په حق کې پرېکړه وکړه نو پوه شه چې د اور یوه ټوټه درکول شوه.» ګڼې د دې سړي د عمل پایله له دنیوي پلوه خو د مځکې یوه محبوبه ټوټه وه. خو د اخرت په اعتبار د اور بلنده لمبه وه. ده د خپل عمل له امله په دنیا کې مځکه پرېښودله او وړاندې د اخرت دنیا ته یې د اور لمبې لېږلې.

همدغه حال د نېکو اعمالو هم دی. امام احمد د غوسې په باره کې د عمر فاروق رضي الله عنه دا قول راوړی دی:

**ماتجرع عبد جرعة من لبن او عسل خیر من جرعة غیظ.** ژباړه: د غوسې له غوړپ نه غوره د شیدو یا شاتو غوړپ چا نه دی تېر کړی.

غوسه تېرول د دنیا په اعتبار خورا تریخ غوړپ دی. خو د دې عمل اخروي جوړه هم شته او هغه له شیدو او شاتو هم ډېر خوږ او خوندور دی.

په حدیث کې راغلي دي چې د ګرمۍ شدت د جهنم د ساه له امله وي. **(ان شدة الحر من فیح جهنم)** همدغه راز د معراج په حدیث کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې سدرة المنتهی ته ورسېد، نو څلور سیندونه یې ولیدل. دوه سیندونه دننه بهېدل او دوه دباندې. جبرائیل ورته وویل چې دننه بهېدونکي سیندونه خو د جنت سیندونه دي او دباندې د نیل او فرات سیندونه دي. ګواکې اوسنۍ دنیا او د اخرت دنیا د یوې سکې دوه مخونه دي. دنیوي اړخ یې ناڅیزه او مؤقتي دی. اخروي مخ یې غوره او دایمي. موږ نن له دنیوي مخ سره اخته یو. له مرګ نه وروسته به یې اخروي اړخ سره مخ کېږي.

د انساني عمل دغه دوه‌ګونی اړخ د معراج په حدیث کې په بېلا بېلو تمثیلونو ښودل شوی دی.

## د انسانانو یو ډول دا هم دی

عمر بن ربیعه (۹۳- ۳۲هـ) شاعر و چې زیاتره به یې عشقي مضمونونه په شعر کې راوړل. حتی د شریفو کورنیو د ښځو نومونه به یې اخیستل او د هغو په باره کې به یې بربنډ شعرونه ویل. د ده په خلاف شکایتونه تر حکومته ورسېدل. همدا وه چې عمر بن عبدالعزیز دهلک ته تبعید کړ چې د یمن او حبشې په منځ کې د بحرِ احمر یوه جزیره وه. دی په هغه شپه نړۍ ته راغلی و چې حضرت عمر فاروق رض په کې وفات شو. خلکو به په دې اړه ویل چې څومره ستر حق واخیستل شو او څنګه باطل یې په ځای راغی.

د عمر بن ربیعه یو شعر دا دی:

**الا لیــت ام الفضــل کانــت قرینتــي**
**هنــا او هنــا فــي جنــة او جهــنم**

ژباړه: کاش ام الفضل په یوه نه یوه طریقه زما مېرمنه شي، دلته یا هلته، جنت کې یا دوزخ کې.

★

په سوره توبه (آیت ۶۰) کې د خیراتونو اته مصرفونه ښودل شوي دي، په هغو کې یې د لومړنیو څلورو (فقیرانو، بې وزلو، کارکوونکو، هغوی چې په زړونو کې یې الفت اچول هدف وي) لپاره د **لام** حرف راغلی دی. یانې ویل شوي دي چې خیراتونه «د دوی لپاره» دي. خو وروستیو څلورو مصرفونو (مریبانو، پوروړو، د الله په لار کې، مسافرو) لپاره د **في** حرف کارول شوی دی. یانې ویل شوي دي چې خیراتونه د دوی په ګټه د کارولو لپاره دي. د لومړیو څلورو مستحقینو لپاره **لام** دی چې د ملکیت مفهوم رسوي. د نورو څلورو مستحقینو لپاره **في** دی چې په عربي ژبه کې د ظرفیت مفهوم رسوي ـــــــ د حکم په الفاظو کې د دې فرق وجه دا ده چې لومړیو څلورو ډلو ته زکات په داسې ډول ورکول کېږي چې زکات د هغوی ملکیت وګرځي خو د

دي نورو څلورو ډلو حيثيت د څلورو مصرفي ځايونو دی. (فقه الزکوة از شيخ يوسف القرضاوي)

★

## هغه مسئلې چې تر اوسه پورې خلک ورنه ناخبره دي

د سهار له لمانځه وروسته زه د جومات په زينو راکوزېدم، يوه سپين ږيري وويل، «ومو نه ليده دا سړی؟» او بيا يې زما ځواب ته له انتظار پرته وويل «په لمانځه ولاړ و او ځنګلې يې تر دې ځايه لوڅې وې. شيطان هم خوشاله، رحمان هم خوشاله، خدای مو دې له داسې نـمازيانو وساتي.» سپين ږيري دا خبرې کولې او له لفظ، لفظ نه يې نفرت او حقارت څڅېدل.

ما ځان سره فکر وکړ ـــــ خلکو ته د ځنګلو د لوڅېدو «مسئله» معلومه ده، خو دا مسئله نه ده ورمعلومه چې د يوه مسلمان لپاره حرام دي چې بل مسلمان ته په سپکه سترګه وګوري او په نفرت سره يې ياد کړي.

★

## ښه اخلاق دا دي چې غوسه ونه کړو

ابوالعلاء بن الشخير روايت کړی دی، يو شخص رسول الله صلی الله عليه وسلم ته له مخې راغی او ويې ويل: اې د خدای رسوله! کوم عمل ډېر غوره دی؟ رسول الله وفرمايل: ښه اخلاق. بيا له ښي لوري ورته راغی او ويې پوښتل: اې د خدای رسوله! کوم عمل ډېر غوره دی؟ رسول الله وفرمايل: ښه اخلاق. بيا له کيڼ لوري ورته راغی او ويې پوښتل: اې د خدای رسوله! کوم عمل ډېر غوره دی. رسول الله وفرمايل: ښه اخلاق. بيا له شا ورته راغی او ويې پوښتل: اې د خدای رسوله! کوم عمل ډېر غوره دی؟ رسول الله ورته متوجه شو او ويې فرمايل:

**مالک لاتفقه حسن الخلق، هو ان لا تغضب ان استطعت (محمد بن نصر المروزی، کتاب الصلاة)**

ژباړه: په تا څه شوي دي چې په ښو اخلاقو دې سر نه خلاصيږي. ښه اخلاق دا دي چې تر وسه، وسه غوسه ونه کړې.

## جنت ته رسوونکي اعمال

طبراني له حمید طویل نه روایت کړی دی چې انس بن مالک رضي الله عنه ناروغ شو. ځیني خلک یې عیادت ته راغلل. هغه خپلې نوکرې ته وویل: زموږ ملګرو ته یو څه راوړه. ان که د مړې ټوټه هم وي. ځکه ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اورېدلي دي چې:

**مکارم الاخلاق من اعمال الجنة (الترغیب و الترهیب جلد ۴)**

ژباړه: ښه اخلاق د جنت له اعمالو څخه دي.

## له ټولو سره د مهربانۍ رویه

سهیل بن عمرو وايي، رسول الله صلی الله علیه وسلم له یوه ځایه تېرېده نو یو اوښ یې ولیده چې ګېډه یې له ملا سره لګېدله. رسول الله وفرمایل:

**اتقوا الله في هذه البهائم المعجمة. فارکبوها صالحة و کلوها صالحة (ابو داؤد)**

ژباړه: د دې بې ژبو ځارویو په باره کې له الله نهووېرېږئ. په سمه توګه سپرلي ورباندې وکړئ او په سمه توګه خواړه ورکړئ.

## د داعي اخلاق څنګه وي

عمرو بن المرة الجهني واورېدل چې په مکه کې یو نبي راڅرګند شوی دی. دی په خپلې سورلۍ کېناست او مکې ته ورسېد او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یې ملاقات وکړ. رسول الله وفرمایل: «اې عمرو بن مرة! زه د خدای رالاستولی پیغمبر یم

ټولو انسانانو ته. زه هغوی اسلام ته رابولم. هغوی ته دا لارښوونه کوم چې وينه مه تويوئ، د خپلوانو حقونه په ځای کړئ، د يوه الله عبادت وکړئ، د بتانو عبادت پرېږدئ، د بيت الله حج وکړئ، د رمضان روژې ونيسئ. چا چې دا خبرې ومنلې، هغه لره جنت دی او چا چې ونه منلې د هغه لپاره د اور عذاب دی. اې عمرو! ايمان راوړه، الله به دې د دوزخ له بوږنوونکو حالاتو وژغوري.» عمرو بن مرة په همدې لومړی ليدنه کې متاثر شو او ويې ويل:

**اشهد ان لا اله الا الله و انک رسول الله آمنت بکل ما جئت به من حلال و حرام و ان رغم ذلک کثير من الاقوام.**

ژباړه: زه شاهدي ورکوم چې بې له الله بل معبود نشته. او ته د الله رسول يې. ما په هر هغه حلال او حرام ايمان راووړ چې تاسې راوړی دی. ان که په ډېرو خلکو بد هم لګېږي.

بيا يې وويل: اې د خدای رسوله! ما خپل قوم ته واستوئ. شايد الله زما له لاسه په هغوی احسان وکړي په څه ډول چې ستاسې له لارې الله په ما احسان وکړ. رسول الله په دې ټکو کې ورته نصيحت وکړ او وايې ستوه:

**عليک بالرفق والقول السديد ولا تکن فظا ولا متکبرا ولا حسودا (کنز العمال)**

ژباړه: همېشه نرمي کوه، سيده خبره کوه، بدخويي مه کوه، تکبر او حسد مه کوه.

## څلور مهم‌ترین نصیحتونه

ابو ذر رضي الله عنه وايي، رسول الله صلی الله علیه وسلم شپږ ورځې هره ورځ ماته همدا ویل: «اې ابو ذره! ښه پوه شه چې تا څه ویل کېدونکي دي.» اوومه ورځ چې راغله نو ویې فرمایل:

**اوصیک بتقوی الله في سرّ امرک و علانیة، و اذا اسأت فاحسن، و لا تسئلن احدا شیاء و ان سقط سوطلک، و لا نقبضن امانة (الترغیب و الترهیب جلد ۲)**

ژباړه: زه درته نصیحت کوم چې په پټه او ښکاره هر حال کې الله نه ووېرېږه. او چې کله بدي درنه وشي، نو ورپسې نېکي وکړه. له چا نه هېڅ هم مه غواړه ان که ستا قمچینه هم لوېدلې وي. او د چا په امانت قبضه مه کوه.

## له انسان سره اساني

ابو هریرة رضي الله عنه وایي، یو کوچی راغی او په جومات کې په بولو کېناست. خلکو د هغه وهلو ته ور وځغاستل. رسول الله صلی الله علیه وسلم خلک منع کړل او ویې فرمایل:

**دعوه و اریقوا علی بوله سجلا من الماء او ذنوبا من ماء. فانم بعثتم میسرین و لم تبعثوا معسرین. (بخاري)**

ژباړه: پرې یې ږدئ او په بولو یې د اوبو سطل واړوئ. ځکه تاسې اساني کوونکي رالېږل شوي یاستئ، سختي کوونکي نه یاستئ رالېږل شوي.

## درغلي كوونكى له مسلمانانو څخه نه دى

ابو هريرة رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له بازاره تېرېده. ويې ليدل چې يوه سړي د غلې انبار لګولى او پلوري يې. رسول الله چې د غلې په انبار کې لاس ننويست، ګوتې يې لمدې شوې. نو د غلې مالک ته يې وويل چې په دې کې دا لوندوالى څنګه دى؟ هغه وويل چې په بارانه کې لمده شوه. رسول الله وفرمايل:

**افلاجعلته فوق الطعام حتى يراه الناس، من غشنا فليس منا (متفق عليه)**

ژباړه: تا دغه لمده غله پاس ولې کې‌نه‌ښوده چې خلکو ليدلې واى. واوره، څوک چې درغلي کوي، له موږ څخه نه دى.

## د صحابي تر ټولو محبوب عمل

ابو نعيم له عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت کړى دى. هغه وويل:

**لان اعول اهل بيت من المسلمين شهرا او جمعة او ماشاءالله احب الى من حجة بعد حجة. ولطبق بدانق اهدية الى اخ لى في الله عزوجل احب الى من دينار انفقه في سبيل الله عزوجل.**

ژباړه: که زه يوه اوونۍ يا يوه مياشت له مسلمانانو څخه د يوې کورنۍ خبر واخلم، نو دا راته په حج پسې حج کولو نه ډېر محبوب دى. که زه يو لوښى پيسې خپل ورور ته ډالۍ ورکړم، نو دا راته

له دې نه ډېر ګران دی چې یو لوښی دینار د خدای په لاره کې ولګوم.

## بې ګټې خبره نه کول، د چا بد نه غوښتل

زید بن اسلم وایي، ابو دجانه رضي الله عنه په مرګوني مرض مبتلا شو. خلک د هغه لیدو ته ورغلل. دی ناروغ و خو څېره یې ځلېدله. خلکو وپوښتل: څه خبره ده چې څېره مو داسې ځلبل کوي؟ ابو دجانه رضي الله عنه ځواب ورکړ:

**مامن عملی شیئ اوثق عندی من اثنتین. اما احدا هما فکنت لا اتکلم فیما لا یغنینی. و اما الاخری فکان قلبی للمسلمین سلیما (ابن سعد جلد ۳)**

ژباړه: زما په اعمالو کې دوه شیان ډېر زیات د اعتماد وړ دي. یو دا چې زه بې ګټې خبره نه کوم. بله دا چې زما زړه د مسلمانانو لپاره همېشه صفا وي.

## په اسلام کې د نزاکت احساس

عبدالله بن عباس رض وايي، یوه سړي د حلالولو په خاطر اوزه په اړخ څملوله او خپله چاړه یې تېروله. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**اترید ان تمیتها موتتین. هلا احددت شفرتک قبل ان تضجعها (طبرانی، احمد)**

ژباړه: ته غواړې دغه اوزه په دوو مرګونو ومرې؟ ولې دې د دې له څملولو مخکې چاړه تېره نه کړه؟

## خادم د هغه په تېروتنو ببښل

عبدالله بن عمر رض وايي، يو کوچي رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او ويې پوښتل: اې د خدای رسوله! زه د ورځې څو ځله خپل خادم وبښم؟ رسول الله وفرمايل: **سبعين مرة**.(اويا ځله يې ببښه.) **ترمذي، ابوداؤد**

## له انسان سره وحشيانه سلوک روا نه دی

د بدر له غزا وروسته په نيول شويو کسانو کې سهيل بن عمرو هم و. دی د قريشو ډېر مشهور خطيب و او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خلاف به يې ډېرې سختې ويناوې کولې. عمر رضي الله عنه، رسول الله ته وفرمايل: ماته اجازه راکړئ چې د دې سرې د مخې دوه غاښونه ورمات کړم، چې بيا د اسلام په خلاف وينا ونه شي کولی. رسول الله وفرمايل:

**لا امثل به فيمثل الله بي و ان کنت نبيا. (من اخلاق النبی)**

ژباړه: زه به د دې سړي څېره ور خرابه نه کړم، ځکه بيا به الله زما څېره راخرابه کړي. سره له دې چې زه د الله رسول يم.

## د مزدور مزدوري مه ځنډوئ

ابن ماجه له عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت کړی دی چې نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**اعطوا الاجير اجره قبل ان يجف عرقه.**

مزدور ته يې د خولو له وچېدو مخکې خپله مزدوري ورکړئ.

## بدي کوونکي ته دعا وکړئ

ابو هريرة رضي الله عنه وايي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو شرابي راوستل شو. د پیغمبر علیه السلام په امر شرابي په درو ووهل شو. چې کله لاړ، نو ځینو خلکو وویل: اې الله! دا سړی رسوا کړه. اې الله! په دې سړي دې لعنت وي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**لاتقولوا هکذا ولا تکونوا للشیطان علی اخیکم. ولکن قولوا اللهم اغفرله اللهم اهده (ابن جریر)**

ژباړه: داسې مه وایئ او د خپل ورور په خلاف د شیطان ملګرتیا مه کوئ. بلکې داسې ووایئ: یا الله! ته یې ګناهونه وبښه، اې الله! ته ورته هدایت وکړه.

## په مسلمان لعنت ویل ډېره لویه ګناه ده

طبراني له سلمه بن اکوع رض نه روایت کړی دی، هغه وايي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې به چې موږ څوک ولیدل، چې په خپل ورور به یې لعنت وایه، نو موږ به داسې ګڼله چې دی د ګناهونو له دروازو څخه په یوه لویه دروازه کې داخل شوی دی **(کنا اذا رأینا الرجل یلعن اخاه رأینا ان قداتی بابا من ابواب الکبائر)**

## مؤمن سپک ګڼل مو تر بې دیني رسولی شي

عروه رضي الله عنه وايي، رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه حج کې و. او له عرفات نه په حرکت کولو کې د اسامه بن زید رض له امله ناوخته شو. رسول الله هغه ته په تمه و چې یو هلک راغی چې تور رنګ او پیته پزه یې وه.

د یمن کوم وګړي چې له رسول الله سره وو، په هغو کې یوه وویل:

**انما حبسنا من اجل هذا (ابن سعد جلد ۴)**

ژباړه: موږ د دې له امله درول شوي وو؟

عروه رض وايي چې د یمن وګړي د خپل همدې قول له امله کافران شول. ابن سعد وايي چې ما له یزید بن هارون نه وپوښتل چې د عروه د دې خبرې څه معنا وه؟ هغه ځواب راکړ چې معنا یې وه، د ابوبکر رضي الله عنه په زمانه کې د یمن د وګړو مرتد کېدل.

## اولاد د سړي تر ټولو لویه کمزوري ده

بزار له اسود بن خلف نه روایت کړی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم حسن بن علي رض ورپورته کړ او ښکل یې کړ. بیا صحابوو ته متوجه شو او ویې فرمایل:

**ان الولد مبخلة مجهلة مجبنة (هیثمی جلد ۸)**

ژباړه: اولاد سړی بخیلوي، د نادانۍ کارونه ورباندې کوي، بې زړه کوي یې.

طبراني له عبدالله بن عمر نه یو روایت راوړی دی، په هغه کې د الفاظ هم دي:

**قاتل الله الشیطان ان الولد فتنة.**

ژباړه: شیطان دې خدای هلاک کړي! دا اولاد خو فتنه ده.

## په کورنیو مسایلو کې د کور د مشر کردار

بیهقي له حسن بن علي رض نه روایت کړی دی، عمر بن خطاب رضي الله عنه د حضرت علي رض له صاحبزادۍ ام کلثوم سره د نکاح پیغام واستوه چې په عمر کې له عمر رض نه ډېره وړه وه. علي بن ابي طالب رضي الله عنه خپلو زامنو حسن او حسین ته وویل چې له خپل تره سره د خپلې خور د واده تیارې ونیسئ. دواړو وویل:

**هی امرأة من النساء تختار لنفسها. (کنز العمال جلد ۸)**

ژباړه: هغه پخپله یوه ښځه ده، او د خپل ځان په باره کې اختیار لري.

علي بن ابي طالب رضي الله عنه په دې خبره غوسه شو او پاڅېد. حسن رضي الله عنه له لمنې ونیوه او ویې ویل: «اې پلاره! زه ستاسې جدايي نه شم زغملی.» بیا دواړو خپل خور عمر رضي الله عنه ته ور نکاح کړه.

## هېڅ مسلمان دې بل مسلمان حقير نه ګڼي

حسن بن ابي طالب رض وايي، د مسلمانانو يوه ډله ابو موسی اشعري رضي الله عنه ته راغله، ابو موسی په فاروقي خلافت کې د والي په دنده باندې و. ابو موسی اشعري عربو ته ډالۍ ورکړې او له هغوی سره چې عجميان راغلي وو، هغوی يې پرېښودل. عمر رضي الله عنه ابو موسی اشعري ته وليکل:

**الاسويت بينهم. بحسب امرئ من الشر ان يحقر اخاه المسلم (كنز العمال جلد ٢)**

ژباړه: تا له دواړو سره د برابري معامله ولې ونه کړه؟ د انسان د بدوالي لپاره همدا کافي ده چې خپل مسلمان ورور حقير وګڼي.

## د مسلمان ورور وارخطا کول روا نه ده

طبراني له سليمان بن صرد رضي الله عنه نه راوړي دي، هغه وايي چې يو کوچی راغی او له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يې لمونځ وکړ. ده سره يو ښکر و. ځينو خلکو هغه ښکر واخيست او پټ يې کړ. لمونځ چې ختم شو، نو کوچي خپل ښکر ونه موندو او وارخطا شو. ويې ويل: زما ښکر څه شو؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فلا يروعن مسلما (هيثمى جلد ٦)**

ژباړه: څوک چې په الله او د اخرت په ورځې ايمان لري، هيڅ کله دې يو مسلمان په اندېښنه کې نه اچوي.

انس رضی الله عنه وایي، عبدالرحمن بن عوف رض چې مدینې ته هجرت راوکړ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه مواخاة (وروروګلوي) له سعد بن ربیع انصاري رض سره وتړله. سعد رض، عبدالرحمن بن عوف رض ته وویل: وا زما وروره! زه د مدینې په خلکو کې تر ټولو ډېر شتمن یم. زما په مال کې وګرځه او نیم یې ته در واخله. زما دوه مېرمنې دي. له هغو نه دې چې هره یوه خوښه وي، زه به هغې ته طلاق ورکړم او ته ورسره نکاح وکړه. عبدالرحمن بن عوف رض وویل: الله دې ستا په اهل او مال کې برکت واچوي، ته ماته د بازار لاره راوښیه. عبدالرحمن بن عوف تجارت پیل کړ او ډېره زیاته ګټه یې وکړه.

څو ورځې وروسته یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او په جامو یې د زعفرانو اثر پروت و. رسول الله صلی الله علیه وسلم په یماني ژبه کې وفرمایل مَهيَم (دا څه دي؟). ده وویل: ما له یوې ښځې سره نکاح وکړه. رسول الله وفرمایل: څومره مهر دې ورته ټاکلی؟ هغه وویل: د کجوري د یوه زړي په وزن سره زر. رسول الله وفرمایل:

**اولم ولو بشاة (احمد)**

ولیمه وکړه، که یوه اوزه هم وي.

## د کور مسؤلیتونه سرته رسول له جهاد في سبیل اللّٰه نه کم نه دی

طبراني او بزار له عبدالله بن عباس رض نه راوړي دي. یوه ښځه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او ویې ویل: اې د خدای رسوله! زه د ښځو له خوا د هغوی استازې درته راغلې یم. له دې ښځو نه هره یوه، که یې تاسې پېژنئ یا نه، غواړي تاسې ته راشي او همدا سوال درنه وکړي. الله د سړو هم دی او د ښځو هم دی. د دواړو معبود دی. تاسې د سړیو رسول هم یاستئ او د ښځو هم. الله د سړو لپاره جهاد ایښی دی. که هغوی په دې لاره کې بریالي شي، نو اجر ورکول کېږي. او که ووژل شي، نو د الله په نزد ژوندي پاتې کېږي او رزق ترلاسه کوي. نو زموږ ښځو لپاره څه دي؟ رسول الله وفرمایل:

**ان طاعة الزوج واعترافا بحقه یعدل ذلک، وقلیل منکن من یفعله (الترغیب والترهیب)**

ژباړه: د مېړه اطاعت کول او د هغه حقونه پېژندل ستاسې لپاره له جهاد سره برابر دی. خو په ښځو کې ډېرې کمې دي چې دا کارونه دې کوي.

## نوروته له تکلیف رسولو ډډه کول

مالک له ابن ابی ملیکه نه روایت کړی دی، عمر فاروق رضي الله عنه د حج په دوران کې یوه ښځه ولیدله. دا د جذام په مرض اخته وه او د بیت الله طواف یې کاوه. عمر رض ورته وویل:

**یا امة الله لا تو ذی الناس لو جلستِ في بیتک**

ژباړه: وا د خدای بندی! خلکو ته تکلیف مه رسوه. بهتره ده چې په خپل کور کې کېنې.

دا ښځه په کور کېناسته. څه موده وروسته یو سړی له دې مجذومې ښځې سره مخ شو. هغه ورته وویل: هغه خلیفه چې ته یې له طواف نه منع کړې وې، هغه وفات شو. اوس ته له کوره راووځه. ښځې ځواب ورکړ:

**ما کنت لاطیعه حیا و اعصیه میتا (کنز العمال جلد ۳)**

ژباړه: زه داسې نه یم چې په ژوند کې یې اطاعت وکړم او له مرګ نه وروسته یې نافرماني وکړم.

## کورته د ننوتلو لپاره د اجازې غوښتلو اداب

طبراني له سفینة رضي الله عنه راوړي دي، هغه وايي چې زه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وم. علي ابن طالب رضي الله عنه راغی او د دننه راتلو اجازه یې وغوښته. هغه ډېر ورو دروازه وټکوله (**فدق الباب دقا خفیفا**)رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل، دروازه ورته خلاصه کړئ. طبراني په یوه بل روایت کې له سعد بن عباده رضي الله عنه څخه راوړي دي، هغه وايي چې دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم لیدو ته راغی او د دننه راتلو اجازه یې وغوښته او دروازې ته مخامخ ودرېد. رسول الله صلی الله علیه وسلم په اشاره ورته وفرمایل، یوې غاړې ته ودرېږه. بیا یې لږ ځنډ وروسته دننه راوغوښت او ویې فرمایل: **هل الاستئذان الا من**

**اجل المنظر** (اجازه غوښتل خو له همدې کتو څخه د ځان ساتلو لپاره ده.)

## دسترخوان ته څوک راوغوښتل شي

ابن سعد له معن نه روایت کړی دی، هغه وایي چې عبدالله بن عمر رضي الله عنه به چې کله خواړه تیار کړل او کوم باحیثیته سړی به یې په خوا کې تېرېده، نو هغه ته به یې بلنه نه ورکوله. البته د ده زوی او وراره به هغه ته بلنه ورکوله. او چې کله به کوم مسکین سړی تېرېده، نو عبدالله بن عمر رض به بلنه ورکوله. خو د ده زوی او وراره به د ډوډۍ نه ورته ویل. ده وفرمایل:

**یدعون من لا یشتهیه ویدَعون من یشتهیه**

ژباړه: دا خلک هغه څوک رابولي چې زړه ته یې نه کېږي. او هغه چې زړه یې غواړي، هغه همداسې پرېږدي.

## د کور د خلکو په خبره عمل کول د دیني مزاج خلاف

بیهقي له جابر بن عبدالله رضي الله عنه نه روایت کړی دی، هغه وایي چې زه له عمر بن خطاب رضي الله عنه سره مخ شوم او ما د یوه درهم غوښه اخیستې وه او کور ته مې وړله. هغه رانه وپوښتل چې دا څه دي؟ ما وویل:

**قرم اهلی فاتبعت لهم لحما بدرهم.** (الترغیب والترهیب جلد ۳)

ژباړه: زما د عیال ډېر زیات زړه ورته شوی و، نو ما د هغوی لپاره د یوه درهم غوښه واخیسته.

د دې خبرې په اورېدو عمر رض زما ټکی (قرم اهلي) بار بار تکراراوه تر دې چې په زړه کې مې ووېل چې کاش دا درهم رانه چېرته لوېدلی وای، یا مې له عمر رضي الله عنه سره ملاقات نه وای شوی. د بیهقي په یوه بل روایت کې دا دي چې جابر بن عبدالله رضي الله عنه ووېل: ما د خپلې کورنۍ لپاره د یوه درهم غوښه رانیولې وه. د هغوی غوښې ته ډېر زیات زړه شوی و. عمر رض په دې خبره وفرمایل:

**اکلما اشتهیتم شیئا اشتریتموه**

ژباړه: نو ستاسې چې هرکله یوه شي ته زړه کېږي، تاسې یې اخلئ. دا ایت له تاسې نه چېرته ولاړ:

**أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُم بِهَا.**

ژباړه: تاسې خو خپلې ښېګڼې په دنیایي ژوند کې وړې دي او ګټه مو ترې اخیستې ده.

## د خواهشاتو قابو کول مسلمان ته ضرور دي

احمد او عبدالرزاق او ابن عساکر له حسن بن علي رض نه راوړي دي، هغه وايي چې عمر رضي الله عنه د خپل زوی عبدالله رض کور ته ورغی. د هغوی کره غوښه راغلې وه. عمر رضي الله عنه ورنه وپوښتل چې دا د څه شي غوښه ده؟ صاحبزاده ځواب ورکړ: نن مې غوښې ته زړه شوی و. عمر رضي الله عنه وفرمایل:

**وكلما اشتهيت شيئا اكلته. كفى بالمرء سرفا ان ياكل كل ما اشتهاه (منتخب الكنز جلد ۴)**

ژباړه: نو ستا چې هرکله یوه شي ته زړه کېږي، ته یې خورې؟ د سړي د اسراف لپاره دا کافي ده چې هر هغه څه وخوري چې زړه یې ورته شوی وي.

## له مسلمان سره اړیکه پرېکول د هغه له وژلو سره برابر دی

**عن ابي خراش السلمی رضي الله عنه انه سمع النبي صلى الله عليه وسلم يقول: من هجر اخاه سنة فهو كسفك دمه.**

ژباړه: نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې تر یوه کاله له خپل ورور نه مرور و، نو دا داسې دی لکه د هغه وینه یې چې بهولې وي. (**ابوداؤد**)

## په داسې مسئله کې مه ښکېلېږئ چې وس یې نه لرئ

بزار له حضرت عبدالله بن عمر رض نه راوړي دي، هغه وايي چې حجاج خطبه ورکړه او داسې خبره یې وکړه چې په ما ښه ونه ولګېده (**فذكر كلاما انكرته**) ما اراده وکړه چې زه یې ځواب ووایم. خو بیا ماته د رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه وینا را په زړه شوه، نو غلی پاتې شوم. رسول الله صلی الله علیه وسلم یو ځل وفرمایل: **لاينبغي للمؤمن ان يذل نفسه** (مؤمن ته مناسبه نه ده چې خپل ځان خوار کړي) ما ورته وپوښتل: اې د خدای رسوله! یو مؤمن څنګه خپل ځان خواروي؟ رسول الله وفرمایل: چې له

داسې بلا سره ډغرې ووهي چې وس يې نه لري (يتعرض من البلاء لما لا يطيق)

## په واړه شر نه راضي شخص به په لوی شر راضي کېږي

طبراني له ابوجعفر خطمی نه راوړي دي، د هغه نيکه عمير بن حبيب بن حماشه رضي الله عنه خپل زوی ته په نصيحت کې وويل: د ناپوهانو له صحبت نه ډډه وکړه او د ناپوهانو له لوري در رسول شوي تکليفونه وزغمه. ځکه څوک چې د ناپوه په واړه شر راضي نه شي، هغه به د ناپوه په لوی شر راضي کېږي ــــ (ومن لا يرضى بالقليل مما ياتى به السفيه يرضى بالكثير)

## د نښتي د ختمولو لپاره يې په هره بيه سوله وکړه

د حديبيه سولې تړون چې ليکل کېده نو رسول الله صلى الله عليه وسلم علي بن ابي طالب ته وويل: وليکه: بسم الله الرحمن الرحيم. سهيل بن عمر په دې وخت کې د قريشو استازی و، هغه وويل: په خدای قسم موږ نه پوهېږو چې «رحمن» څوک دی! نو په موږ کې د دود طريقې له مخې باسمک اللهم وليکئ. مسلمانانو وويل، داسې نه شي کېدی. رسول الله صلى الله عليه وسلم امر وکړ چې وليکه: باسمک اللهم. بيا يې وفرمايل: وليکه «دا هغه تړون دی چې محمد رسول الله تړلی دی.» سهيل بن عمرو بيا وويل: په خدای قسم که موږ پوهېدی چې تاسې د الله رسول ياستئ نو بيا به مو هېڅ کله نه وئ منع کړي او نه به مو درسره جګړه کړې وه. په مسلمانانو دا خبره ډېره بده تمامه شوه. خو رسول

الله کاتب ته امر وکړ چې ولیکه: «محمد بن عبدالله» خو اوس هلته محمد رسول الله لیکل شوی و. علي بن ابي طالب رض اماده نه شو چې دغه ټکی په خپل لاس پاک کړي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل لاس پاک کړ. بیا یې وفرمایل چې ولیکه: قریش به زموږ او د بیت الله له مخې ایسته شي تر څو موږ د بیت الله طواف وکړو.» سهیل بن عمرو وویل: نه، سږ کال تاسې بېرته ستانه شئ او راروان کال ته طواف وکړئ.» رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم ورسره ومنله. بیا سهیل بن عمرو دا شرط کېښنود چې د قریشو کوم سړی که مسلمان شو او مدینې ته درغی، نو هغه به بېرته قریشو ته سپارئ. او که د مدینې کوم مسلمان د قریشو لاس ته ورغی، نو قریش به یې بېرته نه درکوي.» په دې خبره مسلمانان ډېر زیات وپارېدل. خو رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره هم ومنله. رسول الله د قریشو ټول شرطونه ومنل او له هغوی سره یې د لسو کلونو لپاره د نه‌جګړې تړون وکړ. (بخاري ومسلم)

## د اسبابو له قانون نه د پیغمبر اولاده هم مستثنا نه ده

د رسول الله صلی الله علیه وسلم صاحبزادۍ زینب رضي الله عنها د رسول الله له هجرت وروسته په مکه کې پاتې شوې وه. رسول الله صلی الله علیه وسلم زید بن حارثه رضي الله عنه مکې ته واستوه چې حضرت زینب له مکې نه مدینې ته راولي. هغه مکې ته لاړ او حضرت زینب یې په اوښ باندې سپره کړه. عروه

بن زبیر رضي الله عنه وايي چې د قريشو دوه کسان په دوی پسې شول او له مکې نه په يو څه واټن کې يې هغوی ونيول، دې دواړو له زيد بن حارثه رض سره جګړه وکړه او په هغه غالبه شول. بيا دواړو د حضرت زينب سورلۍ وترهوله او هغه له اوښ نه وغورځېدله. حضرت زينب په دې وخت کې حامله وه. په لوېدو سره يې حمل وغورځېد او وينه ورنه روانه شوه. ورپسې خلک راغلل او دا يې د ابوسفيان کور ته بوتله. هلته د بنو هاشم ښځې راغلې او ابو سفيان، زينب رض هغو ښځو ته وسپارله. څو ورځې وروسته دې هجرت وکړ او مدينې ته ورسېده. خو دې پېښې نومورې په دايمي ناروغۍ مبتلا کړه، ان په همدې ناروغۍ کې پسې وفات شوه (فلم تزل وجعة حتی ماتت من ذلک الوجع، طبرانی)

## په نازک حالت کې حکيمانه ځواب

د هجرت په سفر کې رسول الله صلی الله عليه وسلم او ابوبکر رضي الله عنه درې ورځې په غارِ ثور کې تېرې کړې. بيا راووتل او مشهوره لاره يې پرېښوده او د سمندر د غاړې لاره يې ونيوله. دواړه په دوو اوښانو سپاره وو. ابوبکر رضي الله عنه به کله له رسول الله نه مخکې روان و او کله به له شا پسې روان و. رسول الله وپوښتل: «ابوبکره، څه درباندې شوي دي، چې کله مخکې روان يې او کله شاته.» ابوبکر رضي الله عنه ځواب ورکړ: چې کله د تعقيبوونکو سوچ راشي نو زه له تاسې نه شاته شم او چې کله د کمين نيوونکو په باره کې فکر کوم نو له تاسې نه مخکې روان

شم.» ابوبکر رضي الله عنه د خپلو تجارتي تعلقاتو او تجارتي سفرونو له امله په خلکو کې ډېر پېژندلی و، په لاره کې به چې څوک ورسره مخ شول او پوښتنه به یې وکړه چې دا ملګری دې څوک دی؟ ابوبکر رضي الله عنه به لنډ ځواب ورکړ: **هادٍيهديني** (لارښود مې دی، لاره راته ښيي. طبراني)

## د دنیا په بدل کې د اخرت سفر

صهیب رومي رضي الله عنه د هغو خلکو له ډلې نه دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته یې له مکې نه هجرت وکړ. هغه په مکه کې د آهنګري کسب کاوه. دی چې له مکې روان شو، نو د قریشو ځینې کسان ورپسې شول او په لاره کې یې راونیوه. هغوی وویل: صهیبه! ته موږ ته په داسې حالت کې راغلې چې هېڅ مال درسره نه و، اوس به ته هم ځې او خپل مال به هم درسره وړې، په خدای قسم، داسې هېڅ کله نه شي کېدی.» صهیب رضي الله عنه ورته وویل: که زه خپل مال تاسې ته درکړم، نو زما شا به پرېږدئ؟ هغوی وویل، هو. له صهیب رضي الله عنه سره څو اوقیې سره زر وو. سره زر یې هغوی ته ورکړل، او هغوی خوشي کړ. صهیب رومي رض مدینې ته ورسېد او چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم له دې کیسې نه خبر شو، نو ویې فرمایل:

د صهیب تجارت ګټه وکړه، د صهیب تجارت ګټه وکړه. (ربح صهیب، ربح صهیب، تفسیر ابن کثیر جلد اول)

## په ماتې کې هم د نوي اقدام راز

مؤته د اوسني اردن یو کلی دی. په دې ځای کې په ۸ هـ د مؤته غزوه پېښه شوه. په دې وخت کې د مسلمانانو شمېر درې زره او د رومیانو په پوځ کې سل زره مسلح وګړي وو. چې جګړه وشوه، نو د مسلمانانو په یو بل پسې درې سرداران (زید بن حارثه، جعفر طیار، عبدالله بن رواحه) شهیدان شول. بیا خالد بن ولید د مسلمانانو د پوځ سردار وټاکل شو. هغه له نوي پوځي تدبیر سره حملې وکړې او په رومیانو یې وېره او دبدبه خپره کړه. هغوی له میدان نه په شا شول. حضرت خالد رض له دې وروسته نور مخکې تګ د مصلحت خلاف ولیدل او له زر کسیزه پاتې شوي پوځ سره بېرته مدینې ته راستون شو. په مدینه کې ځینو مسلمانانو دوی ته خاورې ور وشیندلې او ویې ویل: **یا فرار! فررتم في سبیل الله** (اې تښتېدونکو! د الله په لاره کې وتښتېدلئ.) رسول الله صلی الله علیه وسلم چې دا واورېدل، نو ویې فرمایل: دوی تښتېدونکي نه دي، انشاء الله دوی برید کوونکي دي. (**لیسوا بالفرار ولکنهم الکرار انشاءالله تعالی، رواه احمد بن حنبل**)

## په اسلام کې د علم ارزښت

د بدر په جګړې کې اویا مشرکین ونیول شوو. په دوی کې چې چا د فدیې وس نه درلود، په هغوی دا فدیه وټاکل شوه چې له انصارو نه دې لسو کسانو ته لیک او لوست ور زده کړي. زید بن ثابت انصاري په همدې طریقه کتابت زده کړ. بیا د رسول الله

صلی الله علیه وسلم کاتب مقرر شو او خدای ډېر اوږد عمر ورکړ او ژبې يې زده کړې. نوموړی په شپږو ژبو پوهېده.

## د غوسې علاج دا دی چې د غوسې په وخت کې غلی شې

امام احمد له عبدالله بن عباس رض نه روایت کړی دی چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له تاسې نه چې څوک غوسه شي، نو غلی دې شي. رسول الله دا خبره درې ځله وکړه. (اذا غضب احدکم فلیسکت، قالها ثلاثا)

## په معاملاتو کې د حکمت لمنه نیول

د مکې د فتحې په شپېه کې د انصارو ډلګۍ مشر سعد بن عباده رض و. دوی چې کله مکې ته ننوتل، نو په لوړ اواز يې وویل: نن د نښتې ورځ ده. نن به حرمت حلال کړای شي. نن الله قریش سرټیټي کړل. ابوسفیان، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شکایت وکړ چې سعد بن عباده دغسې خبرې کوي. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: نه، نن د رحمت ورځ ده. نن به الله قریشو ته عزت وبښي. نن به الله کعبې ته عظمت ورکړي. (بل الیوم یوم المرحمة الیوم یعز الله قریشا و یعظم الله الکعبة، فتح الباری، جلد ۸، صفحه۷)

له هغه وروسته يې له سعد بن عباده نه د انصارو د ډلګۍ جنډه واخیسته او د هغه زوی قیس ته يې ورکړه. ابن قیم جوزي لیکي چې سعد بن عباده دا خبره هیڅ محسوس نه کړه، ځکه ده ولیدل

چې جنډه اوس هم د ده د زوی په لاس کې ده (ورأى ان للواء لم يخرج عن سعد اذ صار الى ابنه، زاد المعاد)

## په دین کې تنګي نشته

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اوصافو له ډلې حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله په دوو شیانو کې یو غوره کاوه نو همېشه به یې اسانه یو غوره کاوه. او که به په هغه کې د ګناه خبره وه، نو بیا به په خلکو کې تر ټولو ډېر ورنه لرې و. (ماخير رسول الله صلى الله عليه وسلم فى امرين قط الا اختار ايسرهما، مالم يكن اثما. فان كان اثما كان ابعد الناس، مسلم)

## په نیمګړې چمتووالي له اقدام کولو نه ډډه

لومړي خلیفه ابوبکر صدیق رضي الله عنه چې له رومیانو سره د جګړې اراده وکړه، نو صحابه یې راټول کړل او مشوره یې ورنه وغوښته. بېلا بېلو خلکو خپل نظرونه ورکړل. خالد بن سعید رضي الله عنه وویل: «اې د رسول الله خلیفه! موږ له تاسې سره مخالفت نه کوو او نه په خپلو منځونو کې اختلاف کوونکي یو. چې کله تاسې د وتلو لپاره راته ووایئ، موږ به ووځو او چې کله امر راته وکړئ، موږ به یې اطاعت وکړو.» ابوبکر رضي الله عنه د خلکو په خبرو خوشاله شو. او بلال رضي الله عنه ته یې وویل چې په خلکو کې اعلان وکړه چې له رومیانو سره دې جهاد ته ووځي. خلک راټول شوو، تر دې چې لوی شمېر ته ورسېدل. ابوبکر رضي الله یوه ورځ لښکرګاه ته راغی. او نور څو صحابه هم

ورسره وو. د راټولو شويو شمېره خو کمه نه وه، مګر له روميانو سره د جګړې لپاره ابوبکر رض ته دا شمېر کم ښکاره شو. او بيا يې چې مشوره وکړه، نو عمر رضي الله عنه وفرمايل: زه دا شمېر له روميانو سره د جګړې لپاره کافي نه ګڼم (**ما ارضى هذه العدّة لجموع بنى الاسفر كنزل العمال جلد٣**) همدا وه چې لښکر يې راوګرځاوه او يمن ته يې خط واستوه تر څو د هغوی په مرسته چمتووالی بشپړ شي.

## له مخالف لوري نه هماغه غوښتنه کول چې وړيې وي

رسول الله صلی الله عليه وسلم د نجران خلکو ته خپل مکتوب واستوه، هغوی خپلو کې مشوره وکړه او درې کسيزه پلاوی يې مدينې ته راواستوه چې ټول حال معلوم کړي. دا درې تنه شرحبيل بن وداعه، عبدالله بن شرحبيل او جبار بن فيض وو. دا خلک مدينې ته ورسېدل او ټول حالات يې له سترګو تېر کړل. بيا شرحبيل خپلو دواړو ملګرو ته وويل: «زه وينم چې دا معامله ډېره سخته ده، په خدای قسم که دا سړی په رښتيا پيغمبر وي او موږ يې خبره رد کړو، نو په ټولو عربو کې به موږ لومړني خلک يوو چې د ده سترګو ته به خار وي. دی او د ده ملګري به موږ هېڅ کله ونه بښي.» دواړو ملګرو وويل: نو ستا څه نظر دی. شرحبيل وويل: زما خيال دی چې زه له ده سره د مصالحت خبره وکړم ځکه زه ګورم چې دی يو داسې سړی دی چې هېڅ کله د لوی شي امر نه کوي (**ارى ان اكلمه فانى ارى رجلا لا يحكم شبططا ابدا، البدايه والنهايه، جلد٥، صفحه٥٥**)

## په چارو کې نظم

ابن سعد او بیهقي له ابوهریرة رضي الله عنه نه راوړي دي، ده له ابوموسی اشعري رض څخه اته سوه زره درهمه واخیستل او مدینې ته راغی. د سهار له لمانځه وروسته عمر رضي الله عنه خلکو ته وویل: د شپې ماته هغه مال راغلی دی چې د اسلام له اولې ورځې تر دې دمه دومره مال هیڅ کله نه دی راغلی. زما نظر دا دی چې زه یې په تول په خلکو وویشم. په دې برخه کې تاسې خپل نظرونه راکړئ (فاشیروا علّی) عثمان رضي الله عنه وویل: زما خیال دی چې د ټولو خلکو لپاره به ډیر زیات مال ته اړتیا وي، نو که خلک ونه شمېرل شي چې دا معلومه شي چې چا واخیست او چا نه دی اخیستی، نو اندېښنه ده چې دا کار به سره ګډوډ شي (اری مالا کثیرا یسع الناس وان لم یحصوا حتی یعرف من اخذ ممن لم یاخذ خشیة ان ینتشر الامر) په دې خبره ولید بن هشام بن مغیره وویل: اې امیرالمؤمنینه! زه شام ته تللی وم، د هغه ځای پادشاهان مې ولیدل چې کتابونه یې جوړ کړي دي او دې کار ته یې کارکوونکي نیولي دي. د همدې لپاره تاسې هم کتاب او کارکوونکي مقرر کړئ. عمر رضي الله عنه دا مشوره ومنله او عقیل بن ابي طالب، مخرمه بن نوفل، جبیر بن مطعم یې د کتاب (راجستر) ترتیبولو ته وګمارل. (طبقات ابن سعد، جلد ۳، صفحه ۲۱۶)

## چوپتیا زده کړئ، لکه غږېدا چې زده کوئ

ابن عساکر له ابو الدرداء رضي الله عنه څخه راوړي دي، چې ده خلکو ته په نصیحت کې وویل: چوپتیا هم هماغسې زده کړئ لکه غږېدا چې زده کوئ. ځکه چوپتیا ډېره لویه زړورتیا ده. او له خبرو کولو نه د خبرو اورېدو ډېر حریصان شئ. په داسې شي کې مه غږېږئ چې تاسې ته یې ګټه نه وي. له حیرانتیا پرته خندا مه کوه او له اړتیا پرته تګ مه کوه. (**تعلموا الصمت کما تعلمون الکلام فان الصمت حلم عظیم و کن الی ان تسمع احرص منک الی ان تتکلم و لا تتکلم فی شئ لا یعنیک و لا تکن مضحاکا من غیر عجب و لا مشاء الی غیر ارب، کنز العمال جلد ۲، صفحه ۱۵۹**)

## د نصیحت لاره د کړاوونو لاره ده

طبراني له ابو جعفر خطمی نه راوړي دي، د هغه نیکه عمیر بن حبیب بن حماشه رضي الله عنه خپل زوی ته په نصیحت کې وویل: له تاسې نه چې څوک **امربالمعروف او نهي عن المنکر** کوي نو هغه دې ځان د خلکو په ځورونو باندې صبر ته اماده کړي. او د الله له لوري په ترلاسه کېدونکي اجر دې بروسه وکړي. ځکه چا چې د الله په اجر بروسه وکړه، هغه ته به د خلکو ازار هیڅ تاوان ونه رسوي (**اذا اراد احدکم ان یامر بالمعروف او ینهی عن المنکر فلیوطن نفسه علی الصبر علی الاذی وثیق بالثواب من الله تعالی، فانه من وثق بالثواب من الله عز و جل لم یضره مس الاذی**)

## د رسول اللَّه جګړه د اسلام د خپراوي لپاره وه نه د اقتدار لپاره

له راشده خلافت وروسته چې په مسلمانانو کې خپلمنځي جګړې پیښې شوې، حضرت عبدالله بن عمر رض په هغو کې برخه نه لرله. خلکو وویل: تاسې د فتنې د ختمولو لپاره جګړه ولې نه کوئ؟ د سعید بن جبیر د روایت له مخې، عبدالله بن عمر رض ځواب ورکړ: ته پوهېږې چې فتنه څه ده؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم به له مشرکینو سره جګړه کوله او مقصد یې د هغوی په اسلام کې داخلول وو، ستاسې په څېر د رسول الله جګړه د اقتدار لپاره نه وه. (**ولیس بقتالکم علی الملک، تفسیر ابن کثیر جلد ۲ صفحه ۳۰۸**)

## د اختلاف په بیه اقتدار ترلاسه کول سم نه دي

خالد بن سمیر وايي، حضرت عبدالله بن عمر رض ته وویل شوو: بهتره به وه چې تاسې د خلافت د سمبالولو لپاره راپورته شئ. ځکه تاسې سره ټول خلک راضي دي. هغه ورته وفرمایل: ښه ووایه که په مشرق کې یو سړی مخالفت وکړي. خلکو وویل: که چا مخالفت وکړ، نو سر به ورنه ووهو او د امت د بهترۍ لپاره د یوه سړي وژل څه شی دي. حضرت ابن عمر رض وویل: په خدای قسم زما دا نه خوښېږي چې د محمد صلی الله علیه وسلم ټول امت د نېزې لښته ونیسي او ما یې څوکه نیولې وي او په دې نېزه باندې له مسلمانانو نه یو شخص ووژل شي او په بدله کې یې په دنیا او څه په چې په دنیا کې دي، ټول زما لپاره وي.» د

حضرت قطن په روايت کې دي چې يو سړی حضرت عبدالله بن عمر رض ته راغی او ويې ويل: د محمد ص د امت لپاره له تا نه بد انسان نشته (**مااحدشرلامةمحمدمنک**) ده ورته وويل: ولې؟ ما خو په خدای قسم نه د چا وينه توی کړې او نه مې په امت کې تفرقه اچولې او نه مې د دوی امسا ماته کړې ده. هغه سړي وويل: که تاسې وغواړئ نو د امت دوه کسان به هم ستاسې په باره کې اختلاف ونه کړي. حضرت ابن عمر رض وفرمايل: زما دا نه خوښېږي چې ماته دې خلافت راکول شي او يو کس دې ووايي چې نه، او بل دې ووايي هو. (**ما احب انها اتتنی و رجل يقول لا و آخر يقول بلی، طبقات ابن سعد**)

## د حکومت د بدلولو په نوم د مسلمانانو وژل سم نه دي

حاکم د ابوعريف په حواله راوړي دي، د معاويه رض په مقابله کې چې حسن بن علي رض سره کوم پوځ و، زه د هغه په مقدمة الجيش کې وم. موږ دوولس زره وو او زموږ تورو د شام له وګړو سره د جګړې لپاره سر له اوسه وينې څڅولې. زموږ سردار ابوعمر طه و. موږ ته چې کله دا خبر راورسېد چې د حسن بن علي رض او معاويه رض ترمنځ سوله وشوه نو د غوسې او ګرمي له امله زموږ ملاوې ماتې شوې. حضرت حسن بن علي رض چې کوفې ته راغی نو موږ له نه يو تن هغه ته ور مخکې شو. د هغه نوم ابوعامر سفيان بن ليل و. هغه حسن بن علي مخاطب کړ او ورته ويې ويل: **السلام عليک يا مذل المؤمنين** (سترې مشې د مسلمانانو

خوارוونکیه) حضرت حسن بن علي رض وفرمایل: اې ابوعامره! داسې مه وایه. ما مسلمانان نه دي خوار کړي. بلکې زما دا خبره خوښه نه شوه چې زه د اقتدار لپاره خلک ووژنم. (لم اذل المؤمنين ولکنی کرهت ان اقتلهم في طلب الملک، البدایه والنهایه، جلد ۸)

## له خپلو خواهشاتو سره مقابله کول تر ټولو لوی جهاد دی

حضرت جابر رضي الله عنه وایي چې موږ له یوې غزوې راستانه شوو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسې له واړه جهاد نه لوی جهاد ته راستانه شوي یاستئ. خلکو وپوښتل: لوی جهاد څه دی؟ ـــــ ویې فرمایل: د خپلو خواهشاتو په خلاف د بنده جهاد کول (مجاهدة العبد لهواه، جامع العلوم والحکم، صفحه ۱۷۱)

## د بنده په مال کې د بل هم حق دی

طبراني له جعده رضي الله عنه روایت کړی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم یو شخص ولید چې لویه ګېډه یې نیولې وه. رسول الله د هغه په ګېډه خپله ګوته کېښوده او ویې فرمایل:

لو کان هذا في غير هذا المکان لکان خيرا لک (احمد، طبرانی)

ژباړه: که دا خواړه د بل په ګېډه کې وای، نو ستا لپاره به ډېره بهتره و.

## د پلار مسؤلیتونه

ابو نعیم له ابو رافع رض (د رسول الله صلی الله علیه وسلم غلام) نه راوړي دي، هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وویل: کیف بک یا ابا رافع اذا افتقرت (اې ابو رافع! هغه وخت به دې څه حال وي چې محتاجه شې.) ما وویل: نو ولې سر له اوسه له هغه نه د نجات لپاره تیاري ونه کړم. رسول الله وفرمایل: خامخا یې وکړه. بیا یې وپوښتل: څومره مال درسره دی؟ ومې ویل: څلور زره. او دا د الله عزوجل لپاره دی. رسول الله وفرمایل: نه، یوه حصه د الله په لاره کې ورکړه او یوه حصه درسره وساته. او د خپل اولاد اصلاح ورباندې وکړه. ما وویل: اې د خدای رسوله! ایا د هغوی په موږ حق شته لکه زموږ چې په هغوی حق دی؟ رسول الله وفرمایل: هو، د اولاد حق په خپل پلار دا دی چې د الله کتاب ور زده کړي، غشي ویشتل او لامبو ور زده کړي؛

**وان یورثه طیبا (حلیة الاولیاء جلد ۱)**

ژباړه: او هغوی د خوشبو (دیني اخلاقو) وارثان وګرځوي.

## د زیاترو شکایتونو سبب غلط فهمي وي

د معاویه رض د خلافت په زمانه کې یو شخص سهل بن سعد رض ته راغی او ویې ویل چې د مدینې امیر (مروان بن حکم) علي رض ته پوچ او بد وايي. سهل وپوښتل، چې هغه څه وايي. راغلي کس ورته وویل چې مروان حضرت علي ته ابوتراب وايي

(يقول له ابوتراب). سهل په دې خبره وخندل او ويې ويل: والله ما سماه الا النبی صلی الله علیه وسلم وما کان له اسم احب الیه منه ژباړه: په خدای قسم، دا نوم خو پخپله نبي صلی الله علیه وسلم ورباندې ايښی دی، او حضرت علي ته له دې نه ډېر ګران بل نوم نه و. (بخاري کتاب المناقب، باب مناقب علی)

## مړي ته له بد رد ويلو ډډه کول

د عکرمه بن ابوجهل مېرمنې ام حکيم بنت الحارث د مکې د فتحې په ورځ اسلام راووړ. هغې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وويل چې زما مېړه عکرمه يمن ته تښتېدلی دی. هغه وېرېږي چې تاسې به يې ووژنئ. زما هيله ده چې تاسې هغه ته امان ورکړئ. رسول الله وفرمايل، زما له لوري هغه ته امان دی. ام حکيم له خپل رومي غلام سره د عکرمه په لټون کې ووتله. عکرمه په دې وخت کې د تهامه ساحل ته رسېدلی و. او غوښتل يې چې په کښتۍ کې له سمندر نه واوړي. وچ په همدې وخت کې ام حکيم هلته ورسېده او ويې ويل چې زه د هغه ذات له دره درته راروانه يم چې په ټولو خلکو کې له ټولو نه بهتر دی. ته ځان په هلاکت کې مه اچوه.» هغې په ډېر مشکل سره دی بېرته ستنېدو ته قانع کړ. ام حکيم وويل: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ستا لپاره امان غوښتی دی. عکرمه وويل: تا؟ هغې وويل: هو. دی له خپلې مېرمنې سره بېرته راروان شو. مکې ته

چې نیږدې راغی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو اصحابو ته وفرمایل:

**یاتیکم عکرمة بن ابي جهل مؤمنا مهاجرا فلا تسبوا اباه فان سبّ المیت یوذی الحی ولا یبلغ المیت**

ژباړه: عکرمه بن ابوجهل مؤمن او مهاجر درته راروان دی. نو پلار ته یې کنځلې مه کوئ. ځکه مړو ته بد رد ویل ژوندي دردوي خو مړي ته نه ور رسیږي.

## په اړیکو کې د نورو د عزت لحاظ ساتل

رسول الله چې کله د هجرت له سفر نه مدینې ته ورسېد نو خلک د رسول الله هرکلي ته له کلي دباندې راووتل. په لارو او بامونو باندې د سړو او ښځو او ماشومانو هجوم وو. هغوی زمزمې کولې: **الله اکبر! جاء رسول الله صلی الله علیه وسلم** (الله اکبر، رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی) د انصارو په خپلو کې په دې خبره لانجه شوه چې رسول الله د چا کره تم شي. په مدینه کې د رسول الله ماماخېل هم اوسېدل. د هغوی له خاطره لومړی رسول الله د هغو کره پاتې کېدل ښه وګڼل او ویې فرمایل:

**انزل انلیله علی بنی النجار اخوال عبدالمطلب لاکرمهم بذلک** (البدایه والنهایه، جلد۳)

ژباړه: د اوس لپاره زه د عبدالمطلب د ماماګانو بنونجار کره پاتې کېږم تر څو په دې سره د هغوی اکرام وکړم.

ابو ایوب انصاري (خالد بن زید نجاري خزرجي) چې رسول الله ابتدايي څو میاشتې ورکره تېرې کړې، د همدې بنونجار له کورنۍ څخه و. د مسجد نبوي او شاوخوا حجرو له جوړېدو وروسته رسول الله هلته منتقل شو.

## د شک رایه د شیطان رایه وي

ام المؤمنین صفیه بنت حُی رضي الله عنها وايي، رسول الله صلی الله علیه وسلم په اعتکاف کې و، چې د شپې يې زه لیدو ته ورغلم. ما له هغه سره خبرې وکړې او د بېرته ستنېدو لپاره راپورته شوم. رسول الله هم زما د رخصتولو لپاره ودرېده. په دې وخت کې د انصارو دوه تنه له دې ځایه تېر شول. هغوی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې حال کې ولید نو غوښتل يې چې ژر تېر شي. رسول الله هغوی ته اواز وکړ او ویې فرمایل: بیړه مه کوئ، دا زما مېرمنه صفیه بنت حُی ده.» هغوی دواړو وویل: سبحان الله! اې د خدای رسوله!» رسول الله وفرمایل:

**ان شیطان یجری من ابن آدم مجری الدم. و انی خشیت ان یقذف في قلوبکما شرا او قال شیئا**

ژباړه: شیطان د انسان په رګونو کې د وینې غوندې جریان کوي. زه اندېښمن شوم چې شیطان مو په زړونو کې زما اړوند کوم بد ګمان وانه چوي.

## چا چې په دنیا کې ځان پټ کړ، په اخرت کې به څرګند شي

ابن ابي الدنيا راوړي دي، چې علي بن ابي طالب رض وفرمايل: خپل ځان داسې پټ کړئ چې هيڅ يادونه مو ونه شي او چوپتيا غوره کړئ، خوندي به یاستئ (وارشخصک لاتذکروا صمت تسلم، کنزالعمال جلد ۲ صفحه ۱۵۸)

**پای**